
51
توحید
د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره
Ketabton.com
لیکوال : ډاکټر عبد العزیز العبد اللطیف
ژباړونکی: محمد بشیر مدني
کال: ۱۴۴۷ هـ ق

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توحيد

## دماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توحيد

## دکـــــوچنيانـــواو تنکـــيو ځوانانـــــولپاره

ليکوال : ډاکتر عبدالعزيز بن محمد العبداللطيف

ژباړونکی : محمد بشير مدنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توحید

## دماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره



(c) ketabton.com: The Digital Library

# توحید

## دماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره


دژباړونکی سریزه ........ 1
دتوحید په اړه لنډ معلومات: ........ 3
دتوحید په اړه سوال او ځواب ) : ۱: ( ........ 4
دتو حید په اړه لنډ سوال او ځواب) : ۲: ( ........ 6
دتوحید په اړه لنډ سوال او ځواب ) ۳: ( ........ 8
لومړی اصل اوقاعده: دالله جل جلاله پیژندل: ........ 9
دوهم اصل اوقاعده: ددین پیژندنه: ........ 11
دریم اصل اوقاعده : د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پیژندنه: ........ 13
دوهم اصل او قاعده) لړېه تفصیل سره : ( د اسلام ددین پیژندل: ........ 15
دریم اصل او قاعده ) لړېه تفصیل سره : ( زموږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پیژندل: ........ 16
دتوحید ډولونه ........ 21
۱.توحید ربوبیت ........ 21
۲.توحید الوهیت: ........ 22
۳.داسماء اوصفاتو توحید: ........ 24
دریښتینوخلکو صفتونه: ........ 24
هغه شیان چې دتوحید سره په ټکر کې دی: ........ 25
په آخرت باندی ایمان لرل ........ 27
۲ -دعملونو په تللو اوشمیرلو ایمان لرل: ........ 28
۳ -جنت او دوزخ: ........ 29
داسلامی عقیدی اودهغی دارزښت په اړه ځوخبری: ........ 30

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسلامی عقیدی اهمیت: ........ 31
په الله جل جلاله باندی ایمان لرل: ........ 33
۲ -دالله جل جلاله په ربوبیت ایمان لرل. ........ 35
یجیر ولایجار علیه: ........ 36
۳ -د الله جل جلاله په الوهیت باندی ایمان لرل: ........ 38
ب – همدارنګه دالله جل جلاله په عبادت باندی ایمان لرل: ........ 38
دالله په الوهیت باندی دایمان لرلو اهمیت: ........ 39
د -د أَنْ لاإِلَهَ إِلااللَّهُ معنی: ........ 40
هـ - د لاإِلَهَ إِلااللَّهُ ارکان : دغه لویه کلمه دوه رکنه لری: ........ 40
و -د لاإِلَهَ إِلااللَّهُ شرطونه: ........ 41
۲ -یقین ........ 41
۳ -قبول والی او منل: ........ 41
۴ -دځان تسلیمیدل ........ 42
۵ -صدق: ........ 42
۶ -اخلاص ........ 43
ز -دعبادت معنی: ........ 43
د.د» لا إله إلا الله «معنی: ........ 44
هـ.د» لا إله إلا الله «ارکان: ........ 45
لومړی رکن» :لا إله» ........ 45
دوهم رکن» :إلا الله» ........ 45
و.د» لا إله إلا الله «شرطونه: ........ 46

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. د لا إله إلا الله پر معنی پوهېدل: ........ 46
۲. یقین: ........ 46
۳. منل) قبولول: ( ........ 47
۴. تسلیمېدل: ........ 47
۵. صدق) رښتینولي: ( ........ 47
۶. اخلاص: ........ 48
۷. مینه: ........ 48
ز. د عبادت معنی: ........ 49
ح. الله تعالی مخلوقات د عبادت لپاره پیدا کړي دي: ........ 49
ط. د عبادت ارکان: ........ 50
ی – توحید د عبادت د قبلېدو سبب دی: ........ 50
د عبادت د قبلېدو دوه شرطونه دي: ........ 51
ک – شرک: ........ 51
شرک په دوه ډوله دي: ........ 52
۴– د الله په اسماء او صفاتو ایمان: ........ 54
ب - د الله د نومونو او صفتونو پر ایمان پایلې: ........ 55
دایمان آثار: ........ 55
په فرښتو ایمان لرل: ........ 57
-د فرښتو په اړه ایمان څلور برخې لري: ........ 57
ب – د فرښتو صفات: ........ 57
ج – د فرښتو ډولونه او دندې: ........ 57

(c) ketabton.com: The Digital Library



د -په فرښتو دایمان اثرات: 58
ایمان په آسماني کتابونو: 59
الف – ایمان په کتابونو معنا: 59
ب -د قرأن کریم کریم ځانګړتیاوې: 60
ج - د قرأن کریم کریم په وړاندې زموږ دنده: 61
په پیغمبرانو ایمان لرل: 64
الف – د خلکو د رسالت اړتیا ) : رسالت د انسانانو د لارښوونې وسیله ده: ( 64
ب – پر پیغمبرانو د ایمان معنی: 65
ج – د نبي او رسول تعریف 67
د – د پیغمبرانو ځانګړتیاوې او نښې: 67
ه. د پیغمبرانو د رالېږلو حکمت: 69
پر محمدﷺ ، ) د الله پر نبي او رسول (ایمان: 71
ز – د محمدي رسالت ځانګړنې: 73
ج – پر پیغمبرانو د ایمان اغېزې: 75
۵ :په قیامت ایمان لرل: 76
د قیامت لوېې نښې: 81
ه - بعثت) د مړو ژوندی کېدل( 83
و-دحساب ورځاو د اعمالو وړاندې کېدل: 87
ز -په پل صراط او د اعمالو په تللو ایمان لرل: 92
ج – په جنت او دوزخ ایمان لرل: 94
الف - په قضا او قدر ایمان لرل: 96

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب – په قضاء او قدر د ایمان درجې: ........ 97
ج. د قضاء او قدر څخه ناوره ګټه اخیستل: ........ 100
د – په قضاء او قدر دایمان اغیزې: ........ 102
خاتمه ........ 10

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توحيد

## دماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره

### دژباړونکی سریزه

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه و بعده!

-دا کتاب د توحيد او اسلامي عقيدې په اړه يو بشپړ او پراخ لارښود دی، چې په ځانګړې ډول د ماشومانو، تنکيو ځوانانو او هغو کسانو لپاره ترتيب شوی چې غواړي د اسلام اساسي باورونه په ساده، روښانه او عملي ډول زده کړي .موخه يې دا ده چې لوستونکي د دين اصولو ته ژوره پوهه پيدا کړي، او د خپل ژوند په هر اړخ کې د اسلامي لارښوونو په رڼا کې عمل وکړي.

-ددغه کتاب په پښتو ژبه د ژباړې اصلي لامل دا و چې موږ يو خصوصي دارالحفاظ د حضرت أسماء بنت أبی بکر الصديق رضی الله عنها په نوم درلود، او ټول زده کوونکي يې نجونې وې .د قرآن کريم د حفظ ترڅنګ، موږ غوښتل چې نجونو ته د اسلامي ابتدايي کتابونو زده کړه هم په اسان او مفهوم لرونکي ډول ورکړل شي .کله چې ما دا کتاب وليد، ډېر خوښ شوم او د ژباړې هڅه مې وکړه، ترڅو زموږ د دارالحفاظ زده کوونکي يې د درسي کتاب په توګه وکاروي او نجونې د الله جل جلاله په توحيد پوهې شي او دغه ګټور علم خپلو کورونو ته هم انتقال کړي.

-دا کتاب په اصل کې د شيخ عبد العزيز بن محمد العبد اللطيف له خوا ليکل شوی، چې د مدينې منورې اسلامي پوهنتون د حديثو په پوهنځي کې د جرح او تعديل استاد دی .وروسته، د دې کتاب فارسي ژباړه د شيخ اسحق ديبري لخوا ترسره شوې ده، چې له هغې څخه مو ډېره استفاده وکړه.

-په دې کتاب کې د توحيد بنسټيز اصول، د الله جل جلاله پيژندنه، د پيغمبرانو پېژندنه، د عبادت حقيقت او د اسلامي عقيدې اړوند نور مهم موضوعات په تفصيل سره تشريح شوي دي .لوستونکي به پوه شي چې ولې عبادت يوازې د الله لپاره فرض دی، د شرک خطرونه څه دي، او د ايمان عملي اړخونه څنګه د يوه مسلمان ژوند ته لارښوونه کوي.

-کتاب هڅه کوي چې د اسلامي عقيدې اړوند موضوعات په ساده ژبه وړاندې کړي، څو ماشومان او ځوانان وکولی شي مفاهيم په اسانه درک کړي .د ايمان په اساسي برخو کې لاندې موضوعات شامل دي:

- ايمان پر الله جل جلاله او د هغه ربوبيت، الوهيت، او صفاتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ایمان پر ، فرښتو ، او آسماني کتابونو.
- ایمان پر پیغمبرانو، د هغوی رسالت او لارښوونې.
- ایمان پر قیامت، د اعمالو حساب، جنت او دوزخ.
- ایمان پر قضا او قدر، او د دې عقیدې پر عملي اثراتو.

-هره برخه د مثالونو، سوالونو او ځوابونو، او تشریحي توضیحاتو له لارې وړاندې شوې، څو لوستونکي د دین مفاهیم په عملي او ساده ډول زده کړي .دا لارښود نه یوازې د معلوماتو رسولو لپاره دی، بلکې د لوستونکي د اخلاقي او روحاني تربیت لپاره هم ترتیب شوی، څو د دیني پوهې سره د زړه پاکوالی، صبر، توکل، صداقت، او اخلاص روزنه هم حاصله کړي.

-په دې کتاب کې د هر اصل او قاعدې په اړه هڅه شوې چې لوستونکي ته ښکاره شي چې څنګه دغه اصول د ورځني ژوند په چارو کې عملي کېږي، او څنګه دوی د الله جل جلاله رضا ترلاسه کولای شي .له همدې امله، دا کتاب د یوه لارښود په توګه د دیني زده کړې او عملي ژوند ترمنځ پُل جوړوي، څو مسلمانان د خپلو اعمالو، باورونو، او اخلاقي پریکړو په رڼا کې د دین د اصلي هدفونو سره سم ژوند وکړي.

په درنښت

محمد بشیر مدني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توحید

## دماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره

**دتوحید په اړه لنډ معلومات :**

**لاَإِلَهَ إِلاإِللهُ**

**ژباړه : پرته له الله جل جلاله څخه هیڅوک دعبادت او بندګۍ وړ نه دی.**

**مُحَمَّدُ رَسُوْلُ اللهِ**

**محمد صلی الله علیه وسلم دالله جل جلاله رسول دی.**

**رَبِّي اللهُ**

**زما معبود الله جل جلاله دی**

**أنا أعْبُدُ رَبِّي**

**زه دالله جل جلاله عبادت کوم**

**أنا أحِبُ رَبِّي**

**زه الله جل جلاله خوښوم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توحید

## دماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره

**دتوحید په اړه سوال او ځواب ) : ۱ : (**

س ۱ :ستا معبود څوک دی ؟

ج : زما معبود الله جل جلاله دی.

س ۲ : ته چا پیدا کړی ئی؟

ج : زه او ټول خلک الله جل جلاله پیداکړی دی.

س ۳ : شپه ، ورځ ، لمراوسپوږمی چا پیدا کړی دی ؟

ج : الله جل جلاله شپه ، ورځ ، لمر او سپوږمی پیداکړی دی.

س ۴ : چاهغه زمکه چی موږپری ګرځو پیداکړی ده ؟

ج : هغه زمکه چی موږپری ګرځو الله جل جلاله پیداکړی ده.

س ۵ : چا رودونه پیداکړی او روان کړی ئی دی ؟

ج : الله جل جلاله رودونه پیداکړی اوروان کړی ئی دی .

س ۶ : داسمان څخه څوک باران را وروی ؟

ج : داسمان څخه الله جل جلاله باران را وروی.

س ۷ : چا ونی پیداکړی او میوی ئی تری را ایستلی دی ؟

ج : الله جل جلاله ونی پیداکړی او میوی ئی تری را ایستلی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توحید

## دماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره

د ځینو مسائلو محاوره :

-أنا أعْبُدُاللهَ

زه دالله جل جلاله عبادت کوم

-أنا أحِبُ اللهَ

زه الله جل جلاله دوست ګڼم او خوښوم ئی

-أللهُ خَلَقَ النّاسَ لِعِبَادَتِهِ وَطَاعَتِه ِ

الله جل جلاله دخپل عبادت اوطاعت لپاره پیداکړی دی.

-عِبادتُه وطَاعتُه واجِبَة ٌعَلی جَمِیْعَ النَّاسِ

دالله جل جلاله عبادت او طاعت په ټولو خلکو واجب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توحيد

## دماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره

### دتو حيد په اړه لنډ سوال او ځواب) : ۲ : (

س ۱ : ستا د دين نوم څه دی ؟

ج ۱ :زما ددين نوم اسلام دی.

س ۲ : اسلام څه ته وائی ؟

ج ۲ : يوائی دالله جل جلاله عبادت او دالله جل جلاله د فرمانونو منل او دهغه څه نه چی موږيی منع کړی يو ځان ساتل دی.

س ۳ :داسلام اساس او بنسټ څه شی دی ؟

ج ۳ :داسلام اساس دادی چی له الله جل جلاله څخه پرته هيڅوک دعبادت او بندګی نه دی او محمد صلی الله عليه وسلم دالله جل جلاله رسول دی

س ۴ : کله چی آذان واروو ولی تول دلمانځه لپاره پورته کيږو ؟

ج ۴ : ځکه چی لمونځ داسلام دوهم رکن دی ، انسان پرته دلمانځه اداء کولوڅخه مسلمان نه شميرل کيږی.

س ۵ : هغه پيغمبرچی الله جل جلاله موږته راليږلی دی څوک دی ؟

ج ۵ : هغه پيغمبر چی الله جل جلاله موږته راليږلی دی محمد صلی الله عليه وسلم دی.

س ۶ : ولی الله جل جلاله محمد صلی الله عليه وسلم ټولو انسانانوته راليږلی دی ؟

ج ۶ : الله جل جلاله محمد صلی الله عليه وسلم ځکه ټولو انسانانوته راليږلی دی چی دالله جل جلاله دين ورزده کړی.

س ۷ : محمد صلی الله عليه وسلم څه شی ته رابولی ؟

ج ۷ :محمد صلی الله عليه وسلم خلک دالله جل جلاله توحيد) يووالی ( او دغيرالله دعبادت پريښودلوته رابولی.

❁❁❁❁

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دتوحید په اړه لنډ سوال او ځواب ) ۳ : (

رَضِیْتُ بِاللّٰهِ رَبّاً وَبِالإِسْلامِ دِیْناً وَبِمُحَمَّدٍ صَلَی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلّمْ رَسُوْلاًوَنَبِیّا ً.

دالله جل جلاله په ربوبیت داسلام په دین اودمحمدصلی الله علیه وسلم په پیغمبری راضی اوخوشحاله یم.

لازم دی چی داسلام دری اصول او قاعدی وپیژنو :

۱.دالله جل جلاله پیژندل.

۲.داسلام پیژندل.

۳.د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم پیژندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توحید

## دماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره

**لومړی اصل اوقاعده: دالله جل جلاله پیژندل:**

۱.زمامعبود الله جل جلاله دی چی دټولوشیانو پیداکوونکی ، څښتن او تدبیر کوونکی دی لکه چی فرمائی :

"اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ "

یعنی : الله جل جلاله دټولو شیانوپیداکوونکی دی.

۲.خپل معبود په دلایلو، نښانواودهغه په مخلوقاتوسره پیژنم لکه چی فرمائی « : وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ . »

یعنی : دالله جل جلاله دنښانوڅخه دشپې ورځې ، لمر او سپوږمی پیداکول دی.

۳.یواځی الله جل جلاله دعبادت ښه اوغوره معبود دی ، یو دی هیڅ شریک اوساری نلری لکه چی فرمائی :

« يا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ »

ژباړه : ای خلکو د الله) جل جلاله (عبادت وکړی چی تاسی او د مخکینیو خلکو پیداکونکی دی ښایی چی د الله جل جلاله څخه وویریږی او پرهیزګار شی.

س : الله) جل جلاله (ته ولی پیدا کړی یی ؟

ج : زه یی ځکه پیدا کړی یم چی د هغه عبادت وکړم لکه چی فرمایی :

»وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ .

ژباړه : ما پیریان او انسانان ندی پیدا کړی مګر ددی لپاره چی زما عبادت وکړی.

س : د هغه عبادت څه شی دی ؟

ج : د الله جل جلاله عبادت د هغه یو ګڼل او د اوامرو اطاعت یی دی.

س : لاَإِلَهَ إِلاالِلّٰهُ څه معنی لری ؟

ج : یعنی د یو الله جل جلاله څخه پرته بل معبود بر حق نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم اصل اوقاعده: ددین پیژندنه:

۱ :اسلام : دالله جل جلا له یوګنېل داوامرویې اطاعت او د نواهی څخه یې ځان ساتلوته و ایې لکه چې فرمایې :وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لله وَهُوَ مُحْسِنٌ .

ژباړه : کوم یودین ښتراوغوره که هغه څه نه دی چی خلک دالله جل جلاله حکم ته ځان تسلیم کړی اودالله جل جلاله د فرمان څخه ښکه راشی اوخم نیک کاروی تفسیر دوکتل شی.

۲ :اسلام هغه دین دی چی الله جل جلاله دټولوخلکولپاره خوښ کړی اوپری راضی دی لکه چی فرمایې : وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا .

ژباړه : ښترین قانون اسلام دی چی تاسوته می خوښ کړی دی .

۳ : داسلام دخیر .ښیګڼې .نیکبختی .اوخوشحالی دین دی :لکه چی الله جل جلاله فرمایې:

بَلَى مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُ أَجْرُهُ عِندَ رَبِّهِ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ .

ژباړه : بلکې دغیرله دوی هم داخلیږی ( هرڅوک چی وسپاری ځان خپل الله جل جلاله ته حال داچی دی نیکوکاروی ، نودی د لره اجر دده په نزد درب دده ( او نه به وی هیڅ) قسم (ویره په دوی باندی او نه به دوی) هیچیری (خفه کیږی) دجزا په وخت کی .)

س : اسلام څو ارکان لری او کوم دی؟

ج :داسلام ارکان پنځه دی چی په لاندی ډول بیانیږی:

۱ : پدی سره ګواهی ورکول چی معبود برحق یواځې یو الله جل جلاله دی اومحمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی.

۲ : دلمانځه اداء کول.

۳ : دزکات ورکول.

۴: درمضان د مبارکی میاشتې روژه نیول.

۵ : دالله جل جلاله د کعبی حج کول چی طاقت ولری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توحيد

## دماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره

**دريم اصل اوقاعده : د پيغمبر صلی الله عليه وسلم پيژندنه:**

۱ :زموږ پيغمبر محمد بن عبدالله صلی الله عليه وسلم دی.

۲ : الله جل جلاله محمد صلی الله عليه وسلم ټولوخلکو ته راليږلی ترڅو داسلام مبارک دين ورونښئ.

۳ : دپيغمبر صلی الله عليه وسلم اطاعت په موږ واجب دی لکه چې فرمايي : وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا .

ژباړه : او هغه څه چې درکړی دی تاسی ته رسول) دالله ( نو و ايخلی وينيسی قبول يې کړی او هغه څه چې منع کوی) رسول الله (تاسی له هغه څخه نو بيرته شی تری) مه يې خواری. (

زموږ دعقيدی اصول دری شيان دی:

دالله جل جلاله دين او پيغمبر صلی الله عليه وسلم پيژندل.

لومړی اصل او قاعده ) لړپه تفصيل سره ( د الله جل جلاله پيژندل :

۱ : زموږ الله جل جلاله د ځمکی او اسمانونوپيداکونکی دی . لکه چې فرمايي » : إِنَّ رَبَّكُمُ اللّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ .

ژباړه : ستاسی الله جل جلاله هغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکی يې پيداکړی.

۲ : الله جل جلاله انسان پيداکړ او ښه شکل يې ورته ورکړ لکه چې فرمايي » : لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ .

ژباړه : چې خامخا په تحقيق پيداکړی دی موږ انسان په ډير ښه اعتدال سره.

۳ : الله جل جلاله د ټولو شيانو مدبراوتدبير کونکی دی . لکه چې فرمايي » : يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ .

ژباړه : تدبير کوی ) اونازلوی ( امر کار له آسمان ځمکی ته ) ترورځ دقيامت پوری. (

۴ : الله جل جلاله پيريان او انسانان د خپل عبادت لپاره پيداکړی لکه چې فرمايي » : وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : او ندی پیداکړی ما پیریان او انسانان مگر لپاره ددی چی عبادت وکړی دوی ځما.

۵ : الله جل جلاله موږ ته امر کړی چی په طاغوت باندی کافر شو او په الله جل جلاله باندی ایمان راوړو. لکه چی فرمایی » : فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىَ .

ژباړه : نو هر څوک چی کافر)منکر (شوله عبادت دشیطان اوبتانو او ایمان یی راوړ ) یقین یی وکړ ( په ) وحدانیت ( د الله باندی نو په تحقیق سره یی ټینګه نیولی ده کړی کلکه:

۶ : الْعُرْوَةِ الْوُثْقَىَ د لااله الاالله یوه محکمه اونه شلید ونکی رسی ده یعنی د یوه الله جل جلاله څخه پرته هیڅ معبود بر حق نشته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توحید

## دماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره

**دوهم اصل او قاعده) لړپه تفصیل سره : ( د اسلام ددین پیژندل :**

۱ : اسلام زموږ دین دی . الله جل جلاله دهیچا څخه بل دین نه قبلوی لکه چی فرمایي « : وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلاَمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ .

ژباړه : او هر څوک چی غواړی غیر له اسلامه ) چی توحید او دالله احکامو ته.انقیاد وی ( بل دین نو له سره به ونه منل شی له ده نه .

۲ : داسلام ددین مرتبی دری شیان دی : اسلام ، ایمان ، احسان

۳ : اسلام : الله جل جلاله ته په یوازی تسلیمیدل ، اواطاعت ته یی غاړه ایښودل دشرک او دهغه اړوند څیزونو څخه ځان لری کیدل.

۴ : ایمان : په الله جل جلاله ، ملائکو ، اسمانی کتابونو ، پیغمبرانو دآخرت په ورځ ، قضا اوقدر، خیر او شر باندی باور او یقین لرل.

۵ : احسان : د الله جل جلاله په د ډول عبادت کول چی ته یی وینی ، او که ته الله جل جلاله نه وینی نو یقین وکړه چی الله جل جلاله تا وینی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم اصل او قاعده ) لړیه تفصیل سره : ( زموږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پیژندل :

۱ :هغه محمد بن عبدالله بن عبد المطلب الهاشمی القرشی بهترین د پیغمبرانو او آخرنی دنبیانو دی .

۲ : زموږ پیغمبر صلی لله علیه وسلم موږ ته دغه دین را ورساوه ، موږ ته یی د هر نیک کار د کولو او د هر بد کار څخه د ځان ساتلو امر وکړ.

۳ : د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پیروی او د هغه متابعت پر موږ واجب دی الله جل جلاله فر مایی :

»لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ .

ژباړه : خامخا دی په تحقیق دی تاسی ته ) ای ویریدونکو ( په ) کار (د رسول الله کی اقتداء غوره نیکه .

۴ :دپیغمبر صلی الله علیه وسلم سره مینه باید د پلرونو ، مورانو او ټولو خلکو باندی وړاندی اوچته وی لکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی » : لايُؤمِنُ أحَدُكُم حَتَّى أكُونَ أحَبَّ إلَيهِ مِن وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أجمَعِين .

ژباړه : دیو ستاسی څخه مو ایمان نه پوره کیږی تر هغه چی زه ورته دپلار زوی اوټولو خلکو څخه ورته ګران نه وم.

نو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره مینه په حقیقت کی دهغه صلی الله علیه وسلم پیروی او دټولو فرمانونو عملی کول دی .

أَشْهَدُ أَنَّ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ / پردی ګواهی ورکوم چی پرته د الله جل جلاله څخه بل الله نشته ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ / او ګواهی ورکوم چی محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی .

۱ : پرته له الله جل جلاله څخه هیڅوک دعبادت او بندګی وړ نه دی.

۲ : عبادت : عبادت هغه ټولو نیکو کارونو او ویناوو ته ویل کیږی چی الله جل جلاله یی دوست ګنی اوورته خوښ وی.

۳ : عبادت ډیر ډولونه لری چی ځینی یی په لاندی ډول دی :

دعا ، دالله جل جلاله څخه ویره ، په الله جل جلاله توکل ، لمونځ ، ذکر ، د مور اوپلار خدمت کول........

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توحيد

## دماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره

ددعا دليل : الله جل جلاله فرمايي » : وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ .

ژباړه : اوفرمايي رب ستاسی ) ای بندګانو زما ( تاسی و بولی ما چی قبلوم تاسی ته ) دعا ستاسی ( بيشکه هغه کسان چی تکبر) سرکشی (کوی له عبادت څخه زما زرده چی ننه به وځی دوی په دوزخ کی پدی حال کی چی خوار او سپک به وی.

د الله جل جلاله څخه د ويری دليل : الله جل جلاله فرمايي : فَلَا تَخافوهُم وَخافونِ إِن كُنتُم مُؤمِنينَ .

ژباړه : پس که چيری مؤمنان وی نو دهغوی ) شيطانانو ( څخه مه ويريږی بلکی زما څخه وويريږی .

.د توکل دليل : الله جل جلاله فرمائی : قَالَ رَجُلَانِ مِنَ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمَا ادْخُلُوا عَلَيْهِمُ الْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَالِبُونَ ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَتَوَكَّلُوا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ .

ژباړه : وويل دوه سړيو ، له هغوکسانونه ، چې ډاريدل ، لورينه کړې وه الله پاک پرهغوی دواړو ننوزی تاسی ، پرهغوی ، پردروازه ، نوکله چې ، ننوتی تاسی پردروازه ، نوبيشکه تاسې پرلاسي يی ، اوخاص پرالله ، نو توکل وکړی ، که ياست تاسې مؤمنان .

يعني : له ډاريدونکی قوم څخه دوه هغو کسانو چې الله پری لورينه کړې وه وويل تاسې پری ددروازی له لوری ورننوزی ، او چې پردروازه ورننوتی نو تاسې پرلاسي يی ، او په الله توکل وکړی که تاسې مؤمنان ياست .

.دلمانځه دليل : مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَ اتَّقُوهُ وَ أَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ .

يعنی : رجوع کوونکي ، خاص په لوردهغه ، نو وډارشی تاسي له هغه ، او ودروی تاسي ، لمونځونه ، او مه کيږی تاسي ، له مشرکانو.

يعني : په ځانګړی توګه الله ته ورمات او له هغه نه وډارشی ،لمونځ ودروی ، اوله مشرکانو څخه مه کيږی

.دذکر دليل : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا .

ژباړه : ای هغو کسانو چی ايمان مو راوړی يادکړی ، الله ،په ډيرو يادولوسره .

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني : ای مؤمنانو الله ډير يادکړی.

.دمور او پلار داطاعت دليل : وَ وَصَّيْنَا الْإِنْسانَ بِوالدَيْه إِحْسَاناً . .

ژباړه : اوحکم کړی موږ، انسان ته ، چې د مور او پلار سره نيکي وکړي.

يعني : موږ انسان ته امر کړی دی چې له مور او پلار سره ښيګڼه او نيکی وکړي .

۴.ټول عبادتونه يواځې دالله جل جلاله لپاره ترسره نوکه څوک کوم کار دغيرالله لپاره وکړی کافرکيږی لکه چی الله جل جلاله فرمائی : وَمَن يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِندَ رَبِّهِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ .

ژباړه : اوهرڅوک ، چی بولی ، سره له الله ، معبود بل ، نشته دليل ، لپاره دبلونکی ، په هغه ، نوبې شکه حساب دهغه په نزد د رب دهغه دی ، بې نه مومی بری ، کافران.

يعني : او څوک چې دالله ترڅنګ بل خدای چې هيڅ دليل هم پری نلری را وبولی نو حساب يې له رب سره دی ، او داخبره پخه ده چې کافران بريمن کيدای نشي.

۵.الله جل جلاله پيريان او انسان ددی لپاره پيداکړی دی چی يواځې دهمده عبادت وکړی لکه چی فرمائی : وَمَاخَلَقْتُ الْجِنّ وَالاِنْسَ اِلّالِيَعْبُدُوْنَ .

ژباړه : اونه دي پيداکړي ما، پيريان ، او انسانان مګر، لپاره ددې چی عبادت وکړي زما.

يعني : اوماپيريان او انسانان له دې پرته دبل هيڅ شي لپاره نه دي پيداکړي چې هغوی به زما عبادت او بندګي کوی .

۶.څوک چی يواځې دالله جل جلاله عبادت وکړی لويی نيکبختی ، خوشحالی او ښه ژوند ترلاسه کولای شی لکه چی فرمائی : مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ...

ژباړه : هرچاچې وکړ، نيک کار ، له نارينه ياښځينه ، او هغه مؤمن وي ، نوژوندون به ورکړو هغه ته ، ژوند پاک ، او جز ابه ورکړو هغوی ته اجر دهغوی ، په ډير ښه ، هغه چې وو هغوی کولوبه يې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني : هرنارينه او ښځينه مؤمن چې نيک کارونه وکړي نو موږبه پاک ژوند ورپه برخه ، او په آخرت کی ددوی دنيکو کړنو بدل ، هرومرو ورکوو .

۱.د أن محمد رسول الله دشهادت دکليمی معنی :

دهغه مبارک تصديق او باور دهغه څه په اړه چی موږ ته ئی خبرراکړی اودهغه مبارک اطاعت په هغه څه کی چی موږته ئی امر کړی ، او ځان ساتل دهغه څه نه چی موږئی منع کړی يو ، اوهغه داچی دالله جل جلاله عبادت اوبندگی په داسی ډول وشی چی دشريعت مطابق وی .

۲.زموږدپيغمبرصلی الله عليه وسلم نوم : محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب الهاشمی دی چی دعربوپه منځ کی بهترين نسب دی .

۳.الله جل جلاله محمد صلی الله عليه وسلم ټولوخلکوته رالیږلی دی اواطاعت يې پرټولو واجب دی . لکه چي فرمايي : قُلْ يا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعاً .

ژباړه : وو ايه ، ای خلکو، بې شکه زه ، استازی يم دالله ، په لور ستاسي ټولو .

يعني : ای محمده ! وو ايه چي ای خلکو !زه تاسو ټولو ته دهغه الله له لوري رالیږل شوی يم .

۴.پيغمبرصلی الله عليه وسلم لومړی په مکه مکرمه کی ژوندکاوه خلک يې توحيد او دالله جل جلاله يووالی ته رابلل بيايې مدينې منورې ته هجرت وکړاوهلته يې داسلام دمبارک دين نور احکام لکه زکات ، روژه ، جهاد او داسې نوروپه سرته رسولو امر وکړاوبيا په مدينه منوره کی د۶۳ کالوپه عمروفات شو.

۵.هرڅوک چې دپيغمبرصلی الله عليه وسلم داوامرومخالفت وکړي دسخت عذاب مستحق گرځي‌الله جل جلاله فرمائی : فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ .

ژباړه : نوبايد وډار شي ، هغه کسان ، چې مخالفت کوي ، له حکم درسول نه چې وبه رسيږي هغوی ته ، فتنه ، ازميښت ، ياوبه رسيږي هغوی ته ، عذاب ، درد ناک .

يعني : دپيغمبر له حکم نه سر غړوونکي بايد وډار شي هسې نه چې په کومه کې اخته او ياورته دردناک عذاب ورسيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶.څوک چې دپيغمبرصلی الله عليه وسلم اطاعت کوي پوره نيکبختی او لويه کاميابي يي په برخه کيږي لکه چې فرمايي : وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ .

ژباړه : اواطاعت وکړی تاسې ،دالله اودرسول ، ترڅو په تاسې رحم وکړای شي .

يعني : اودالله اورسول اطاعت وکړی کيدای شي چې رحم درباندې وشي .

اوهمدارنګه الله جل جلاله په بل ځای کی فرمائی : وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا .

ژباړه : اوکه اطاعت وکړې دهغه ، نوليار به ومومئ.

يعني : اوکه تاسې دهغه اطاعت وکړئ نوسمه لياره به وموئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دتوحید ډولونه

دتوحید تعریف : الله جل جلاله په الوهیت ، ربوبیت ، او دټولو اسماؤ صفاتوسره یو بللوته توحیدو ائی

دتوحید ډولونه : توحید ربوبیت ، توحید الوهیت ، توحید اسماء وصفات.

۱.توحید ربوبیت : الله جل جلاله په خپلو افعالو کې یو ګڼلوته توحید ربوبیت و ائی . یعنی : پدی باندی عقیده اوباورلرل چی ټول شیان لکه : پیداکول ، روزی ورکول ، دکارونوبر ابرول ، ژوندی کول ، مړه کول ، چی داټول دالله جل جلاله له لوری دی ، چی هیڅ یو پیداکوونکی پرته له الله جل جلاله څخه وجودنلری لکه چی فرمائی : اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ .

ژباړه : الله پیداکوونکی دهر شي دی.

ـ پرته له الله جل جلاله څوک روزی ورکوونکی نشته لکه چی فرمائی : وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الأَرْضِ إِلاَّ عَلَى اللّهِ رِزْقُهَا .

ژباړه : اونښته ، خوځنده ، په زمکه کې ، مګر، پرالله دی ، رزق دهغه.

یعني : په زمکه کې چې څومره خوځنده دي دهغوی ټولو روزی پر الله ده .

هیڅ ژوندی کول او مړه کول پرته له الله جل جلاله څخه بل څوک نشی کولای لکه چی فرمائی : هُوَ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ .

ژباړه : هغه ژوندي کول کوي ، اومړه کول کوي ، اوخاص په لور دهغه ، ورګرځول کیږی تاسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توحید

## دماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره

دقریشوکفارو دپیغمبرصلی الله علیه وسلم په زمانه کې په دغه توحید اعتراف کولو مګر دوی دغه اعتراف داسلام په مبارک دین مشرف نکړل لکه چې فرمائی : وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ .

ژباړه : او قسم دی که پوښتنه وکړې له هغوی ، چا، پيداکړي دي ، اسمانونه اوزمکه ، خامخا وبه و ايي هغوی ، الله ، وو ایه ، ټوله ثنا ، یو الله ته ده ، بلکې ، ډیر دهغوی ، نه پوهیږي .

یعني : اوقسم دی که ته له هغوی پوښتنه وکړې چې اسمانونه او زمکه چا پيداکړي دي ، خامخا به وو ايي چي الله ، ای محمده ! وو ایه ، ټولې ستاینې یو الله ته دي ، خو دهغوی ډیر خلک نه پوهیږي .

۲.توحید الوهیت : هغه توحید ته ویل کیږی چی بندګان په هغوټولو افعالواواعمالوکې چی الله جل جلاله پرې امرکړی دی یعنی دبندګانوټول اعمال اوعبادات چی ترسره کوی یی دیو الله جل جلاله لپاره ئی وګرځوی هغه ذات چی مثل او شریک نلری لکه : دعاء، ویره ، توکل ، مرسته غوښتل او داسی نور.

ـ صرف یواځی الله جل جلاله ته غږ کوو لکه چی فرمائی : وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ . سوره غافر ﴿۶۰﴾

ژباړه : او وفرمائي رب ستاسي ) ای بندګانو زما ( تاسي و بولئ ماچي قبلوم تاسي ته ) دعاء ستاسي . (

ـ صرف دالله جل جلاله څخه باید وویریږو لکه چی فرمائی : فَلاَ تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ .

ژباړه : نو مه ویریږی تاسي له کفارو ! او و ویریږی زما ) داحکامو له ترک ( که يئ تاسي مومنان ) په حق سره . (

ـ یواځی به په الله جل جلاله توکل کوو لکه چی فرمائی : وَعَلَى اللّهِ فَتَوَكَّلُواْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ .

ژباړه : اوخاص پر الله توکل وکړئ تاسی ! که يئ تاسي مؤ منان ) باور لرونکي په وعده دالله . (

ـ یواځی به دالله جل جلاله څخه مرسته غواړو لکه چی فرمائی : إِيَّاكَ نَعْبُدُ و إِيَّاكَ نَسْتَعِينُ .

ژباړه : خاص تاته عبادت کوو او خاص له تا څخه مرسته ) مدد ( غواړو .

ـ یواځی به الله جل جلاله ته پناه ور وړو لکه چی فرمائی : قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ . سوره ناس ﴿۱﴾

ژباړه : وو ایه ) ای محمد ( پناه غواړم په رب د ټولو خلکو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ داهغه توحید دی چی پیغمبرانوعلیهم السلام راوړی دی لکه چی فرمائی : وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ .

ژباړه : او خامخا لیږلی وو موږ په هر ) پخوانې ( امت کې یو رسول ) چه وو ایې دوی ته ( چه عبادت کوی ) یواځې ( د الله او ځان ساتی تاسې له شریرانو ) باطلو معبودانو ( څخه .

ـ داهغه توحید دی چی کفارو مخکی هم تری انکار کړی وه اواوس هم تری انکار کوی لکه چی الله جل جلاله دمشرکانوپه ژبه فرمایلی دی : أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَهًا وَاحِدًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ .

ژباړه : آیا ده ګرځولی دی دغه (360 ) معبودان یو ؟ بیشکه دغه ګرځول ، د ډیرو معبودانو یوه ته چې تاسې نور معبودان پریږدئ اودیو الله عبادت کوی ( ، خامخا یو شیز ډیر عجیب دی ) چې مثل نه لری (

۳. داسماء اوصفاتو توحید :په هغو ټولو اسماء اوصفاتوچی الله جل جلاله خپل ځان ته ویلی اویاهم پیغمبر صلی الله علیه وسلم پری موصوف کړی دی په قرآن کریم او صحیح نبوی سنتوکی راغلی دی پری ایمان لرل داسماء اوصفاتوتوحید ته ویل کیږی ، دیادولو وړده چی الله جل جلاله ډیرنومونه لری لکه : ښونکی ، اوریدونکی ، لیدونکی ، حکمت والا اوداسی نور . الله جل جلاله فرمائی : لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ .

ژباړه : نشته په شان ددغه ) الله ( هیڅ شیز ) په هیڅ شیزکې ( ، او هم دغه ) الله ( دی ښه اوریدونکی ) دټولو اقوالو ( ښه لیدونکئ دټولو اعمالو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریښتینوخلکو صفتونه:

الله جل فرمائی : وَالْعَصْرِ ﴿١﴾ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ﴿٢﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴿٣﴾

ژباړه : قسم دی په عصر چه بیشکه انسان خامخا په زیان کې دی ) په صرف کولو دعمر سره په فانیه ؤ مطالبو کی ( مګر ) خو زیانکاران نه دی ( هغه کسان چه ایمان ئی راوړی وی او کړی ئی دی ښه ) عملونه ( او وصیت ئی کړی وی یوله بله په حقه چه ایمان ، او وصیت ئی کړی وی یو له بله په صبر سره ) په طاعت او مصیبت او له معصیته . (

یعنی : الله جل جلاله په وخت قسم یادکړی دی چی انسان په تاوان اوهلاکت کی دی مګر هغه څوک چی څلورصفتونه ولری:

١. ایمان : دالله جل جلاله ، پیغمبرصلی الله علیه وسلم ، اوداسلام مبارک دین پیژندلوته ایمان و ائی .

٢. نیک عمل : لکه لمونځ ، روژه ، ریښتنولی ، دموراوپلارسره نیکی کول.

٣. وصیت کول په حق سره : یعنی دایمان اونیک عمل لوری ته دعوت کول اوهغی ته تشویق اوترغیب ورکول .

٤ـ وصیت کول په صبر سره : یعنی صبراو برده باری ته دعوت اوبلنه ،اوصبرکول په طاعت اودغم او مصیبت په وخت کی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه شیان چې دتوحید سره په ټکر کې دی :**

۱ــ په الله جل جلاله ایمان نه راوړل : لومړی شی چی الله جل جلاله په بندګانو واجب کړی په الله جل جلاله ایمان راوړل او په طاغوت کافرکیدل دی لکه چی الله جل جلاله فرمائی : وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ .

ژباړه : او خامخا لیږلی وو موږ په هر ) پخوانې ( امت کې یو رسول ) چه وو ایې دوی ته ( چه عبادت کوی یواځې ( د الله او ځان ساتی تاسې له شریرانو ) باطلو معبودانو ( څخه .

۲. دطاغوت معنی : هرشی یاشخص چی د الله جل جلاله څخه پرته ئی عبادت وشی او په دغه عبادت باندی راضی وی طاغوت بلل کیږی .

۳.په طاغوت دکافرکیدو څرنګوالی : دغیرالله عبادت باطل ګڼل ، دهغه پریښودل ، دهغه سره کینه کول ، اوهغه څوک چی داسی اعمال ترسره کوی کافرئی بلل او ورسره دښمنی کول دی.

۴.شرک دتوحید ضد دی : نوتوحید پدی معنی سره دی چی یواځې دالله جل جلاله عبادت وکړو ، اوشرک دادی چی یو دعبادتونوڅخه غیرالله ته وکړی لکه : دغیرالله څخه څه غوښتل یا غیرالله ته سجده کول دی .

۵.شرک ترټولو لویه او اوچته ګناه ده الله جل جلاله فرمائی : إِنَّ اللّهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاءُ .

ژباړه : بیشکه الله نه کوی مغفرت ) به ښنی ( داچې شریک ونیول شي له ده سره او مغفرت کوی ) ښنې ( هغه ګناه چې ښکته وي له دې ) شرک او کفرنه ( هغه چاته چې اراده فرمائې د ) مغفرت . (

پدی باید پوه شو چی شرک ټول نیک عملونه له منځه وړی ، په دوزخ کی دهمیش لپاره پاتی کیږی ، او جنت ته دننوتلوڅخه محرومیږی لکه چی الله جل جلاله فرمائلی دی : وَلَوْ أَشْرَكُواْ لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَعْمَلُونَ .

ژباړه : اوکه ) فرضا (شریک کړی وي دوی له ) الله سره نور ( نو خامخا به ضایع شوې وي له دوی نه هغه عمل چې وو دوی چې کاوه به ئی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي : إِنَّهُ ۥ مَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ .

ژباړه : بیشکه شان دادی هرچاچې شریک ونیو له الله سره ) په عبادت کې بل شی ( نو په تحقیق حرام کړی دی ، الله په دغه ) مشرک ( باندی جنت ، او ځای دده اور ) د دوزخ دی . (

۶. **کفر** دتوحید سره په ټکر کی دی نوکفرهغه عمل دی چی کوونکی ئی د توحید او ایمان د دائری څخه خارجوی لکه په الله جل جلاله ، دقرآن کریم په آیاتونو او پیغمبرصلی الله علیه وسلم مسخری او ملنډی وهل ، الله جل جلاله فرمائی : قُلْ أَبِاللهِ وَ آيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ ﴿۶۵﴾ لاَ تَعْتَذِرُواْ قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ .

ژباړه : وو ایه ) ای محمده ! دوی ته چې ( آیا په الله او په آیاتونو) حکمونو (د الله او په رسول د الله پوری وی تاسې چې استهزاء به مو کوله ، عذرونه مه کوی تاسې ) موږ ته په دروغو سره ( په تحقیق ) ظاهرا هم ( کافران شوی یی.

۷-**نفاق** : نفاق دتوحید سره په ټکر کی دی یعنی دخلکوپه وړاندی دتوحید او ایمان ښکاره کول اود کفراوشرک پټول په زړه کی دی لکه : یوځوک چی په خوله ایمان راوړی اوکفرپه زړه کی پټ کړی لکه چی الله جل جلاله فرمائی : وَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ آمَنَّا بِاللهِ وَبِالْيَوْمِ الآخِرِ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ .

ژباړه : اوځینې له خلکو هغه څوک دي چې وايي : ایمان يې راوړی دی موږ په الله او په ورځ دآخرت ) چې قیامت او دجزا وخت دی ( حال داچې نه دي دوی مؤمنان .

یعنی په ژبه وایی موږپه الله جل جلاله ایمان راوړی دی مگر په زړه مؤمنان نه وی .

## په آخرت باندی ایمان لرل:

په آخرت باندی ایمان لرل : یعنی چی دقیامت دورځی و اقع کیدل حتمی وبولی او یقینی ایمان ولری چی خلک به دقبرونوڅخه را ژوندی کیږی دهغوعملونوپه خاطرچی په دونیا کی ئی کړی وی حساب ورسره کیږی اوجز ابه ورکول کیږی چی په نتیجه کی به نیکان جنت ته او گناه کاران به دوزخ ته ځی .

په آخرت باندی ایمان لرل دری شیان دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توحید

## دماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره

**۱ -دمرګ څخه وروسته په بیا را ژوندی کیدلو ایمان لرل :**

دقیامت په ورځ روحونه بیرته خپلونوجسمونوته ورځی اومړی دقبرونو نه را پورته کیږی اوخلک دخپل رب ( الله جل جلاله ( په وړاندی دریږی بیا هغوی چی پښی لوڅ ، بربنډ اوناسنت شوی یوځای سره غونډیږی ځکه الله جل جلاله فرمائی : ثُمَّ إِنَّكُمْ بَعْدَ ذَلِكَ لَمَيِّتُونَ ﴿١٥﴾ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ .

ژباړه : بیا بیشکه تاسی چې ئی وروسته ددی نه ، خامخا مړه کیدونکی یی ، بیا بیشکه تاسو په ورځ دقیامت به را پاڅولی کیږی .

همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمائی : ﴿ يُحْشَرُالنَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلاً ﴾

. یعنی دقیامت په ورځ به خلک پښی لوڅی ، بربنډ اوناسنت شوی دخپلوقبرونونه راپورته کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲ -دعملونو په تللو اوشميرلو ايمان لرل :

الله جل جلاله خلک دخپلو اعمالو سره سم کوم چی په دنياکی ئی ترسره کړی راپورته کوی اوحساب به ورسره کوی بياوروسته چی څوک موحد ) ديوالله جل جلاله عبادت کوونکی وی ( او د الله جل جلاله اود هغه رسول اطاعت ئی کړی وی حساب به ئی اسانه وی ، اوڅوک چی مشرک اوګناه کار وی حساب به ئی سخت وی .

دانسان عملونه به په يوه لويه ترازوکی تلل کيږی دترازو په يوه پله کی نيکی اوپه بله پله کی بدی اچولی کيږی بيا څوک چی نيکی ئی د بديو او ګناهونوځخه زياتی وی جنت ته به ځی ، اوڅوک چی بدی اوګناهونه ئی دنيکيو څخه زياتې وي دوزخ ته به ځي دعملونودتللو په اړه الله جل جلاله فرمائي : فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ ﴿٧﴾فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ﴿٨﴾ وَيَنقَلِبُ إِلَى أَهْلِهِ مَسْرُورًا ﴿٩﴾ وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ وَرَاءَ ظَهْرِهِ ﴿١٠﴾ فَسَوْفَ يَدْعُو ثُبُورًا ﴿١١﴾ فَسَوْفَ يَدْعُو ثُبُورًا ﴿١٢﴾ .

ژباړه : پس هرهغه څوک چې ورکړل شي کتاب) عملنامه ( دده په ښي لاس دده کې ، نو زر ده چې حساب به وکړل شي له ده سره حساب آسان ، او وبه ګرځی اهل خپل ته ) په جنت کې ( خوشحاله کړی شوی ، اوهر هغه څوک چې ورکړل شي کتاب ) عملنامه ( دده وروسته تر شا دده ) په کيڼ لاس ئي ( پس رز به ناری کړی ای هلاکه ! ای هلاکه ) ! زما را حاضر شه ! دادی وخت دی ( او ننه به وځی دی بل اور ) د دوزخ ( ته .

داعمالو تللو دترازو په هکله الله جل جلاله فرمائی : وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا وَكَفَى بِنَا حَاسِبِينَ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : او ایږ دو تلې دانصاف د پاره د ) اهل د ( ورځې د قیامت بس ظلم به ونه کړل شي په هیڅ نفس د هیڅ شي ) هیڅ (، او که وي ) دغه عمل ( په قدر دیوی دانې سپیلني ) اوري ( نو را به و ړو دغه ) دانه ( ، او بس یو موږ حساب کوونکي ) یا ساتونکي د بندګانو داعمالو . (

## ۳ -جنت او دوزخ :

جنت هغه دائیمی ځای دی چی : الله جل جلاله دهغومومنانولپاره تیاره اوجوړکړی دی چی دالله جل جلاله او دهغه دپیغمبرصلی الله علیه وسلم اطاعت ئی کړی وی او د بدیوڅخه ئی پرهیزکړی وی ، په هغه کی ټول هغه دائمی نعمتونه لکه دخوراک ، څکاک اغوستلو او ټول هغه شیان چی انسان ئی خوښوی شته دی.

دوزخ هم د دائمی عذاب ځای دی چی : الله جل جلاله دهغو خلکو لپاره تیارکړی دی چی دالله جل جلاله او دهغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نافرمانی ئی کړی وی ، په هغه کی داسی عذاب ، دردونه ، ستونزی دی چی هیڅ دانسان په فکرکی نه تیریږی شته دی .

الله جل جلاله د جنت په هکله فرمائی : وَسَارِعُواْ إِلَى مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ . ﴿١٣٣﴾

ژباړه : اوتلوار وکړی په طرف د ) هغو اعمالو چې سبب د ( مغفرت درب ستاسې او ) سبب د دخول د ( جنت ) دی ( ، چې پلنوالی دهغه ) لکه پلنوالی د ( اسمانونو او ځمکې دی ، تیار کړی شوی دی دغه ) جنت (له پاره د پرهيزګار انو .

اوهمدارنګه الله جل جلاله فرمائی : فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاء بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ . ﴿١٧﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : پس نه دی معلوم هيڅ نفس ته ) نه پرښتی او نه نبی ته ( هغه شی چې پټ کړی شوی دی دوی ته له يخوالی د سترګو نه دپاره د جزاء دهغه عمل چې وو دوی چې کاوه به ئې ) پټ . (

ددوزخ په هکله الله جل جلاله فرمائی : فَاتَّقُواْ النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿٢٤﴾

ژباړه : وساتی تاسې ) ځانونه ( له هغه اوره چې خس ) خشاک ( د هغه بنيادمان او تيږې ) ګټې ( دی چې تيارکړی شوی دی ) دا اور ( لپاره د کافرانو .

اوهمدارنګه الله جل جلاله فرمائی : إِنَّ لَدَيْنَا أَنكَالًا وَجَحِيمًا ﴿١٢﴾ وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٣﴾

ژباړه : بيشکه په نزد زموږ دی ) لپاره د منکرانو په آخرت کی ( ځنځيرونه درانه او اور سوځوونکي ، او طعام نښتونکی په مری کی ) چې دزقوم او ضريع ونه ده ( او عذاب دردناک .

ای الله ! موږ جنت غواړوهغه خبری اواعمال غواړو چی موږ جنت ورنږدی کړی اودهغواوخبرو او اعمالو څخه په تا باندی پناه غواړو چی دوزخ ته د ورنږدی کيدو سبب کيږی اللهم آمين.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## داسلامی عقيدی اودهغی دارزښت په اړه ځوخبری:

داسلام مبارک دين عقيده اوشريعت دی:

**عقيده** : دهغوکارونوڅخه عبارت دی چی نفس هغه تصديقوی او زړه په هغه سره مطمئن او ډاډه کيږی او د مومنانو دا داسی کارونه دی چی په هغی کی هيڅ ډول شک او ترديد نلری.

شريعت : هغه عملی کارونه دی لکه : لمونځ ، روژه ، زکات ، دمور اوپلار سره نيکی او داسی نور.

داسلامی عقيدی ستنی او اساس عبارت دی له : په الله جل جلاله ايمان لرل ، په ملائکو ، اسمانی کتابونو ، او پيغمبر انو ، داخرت په ورځ ، په قضا اوقدر داچی خيراوشر دواړه دالله جل جلاله له لوری دی ايمان لرل دی.

دليل ئی دالله جل جلاله دغه مبارک آيت دی چی فرمائی : لَّيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَالْمَلآئِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ ﴿۱۷۷﴾

ژباړه : نه ده نيکي) يواځې دا کار ( چې وګرځوي مخونه خپل ) په لمانځه کی ( طرف دمشرق يا مغرب ته مګر غوره نيکي د هغه چا ده چې ايمان ئي راوړی وی په پاک الله او ) ايمان ئی راوړی وی په ( ورځې آخرې او په ( ټولو ( پرښتو او په ) ټولو ( کتابونو او ) ايمان ئی راوړی وی ( په ) ټولو ( انبياؤ .

دقضا اوقدر په هکله الله جل جلاله فرمائی : إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ﴿۴۹﴾وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ ﴿۵۰﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توحید

## دماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره

ژباړه : بیشکه موږ هرشی پیداکړی مودی په ) ږومبنی ازلی ( اندازه سر ، او نه دی امر زموږ ) یو شي لره چې اراده مو کړی ده ده هغه ) پیداکولو ( مکر ) امر ( یو ځل لکه رپول دسترګو .

پیغمبرصلی الله علیه وسلم فرمائی : ﴿ الإيمَانُ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَمَلائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْاخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدْرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ ﴾

یعنی : په الله جل جلاله ، په ملائکو ، په اسمانی کتابونو په پیغمبرانو دقیامت په ورځ اوداچی انسان ته دخیراوشرپیښیدل ټول دالله جل جلاله له لوری دی پوره ایمان لرل دی.

### داسلامی عقیدی اهمیت :

داسلامی عقیدی اهمیت دډیرو کارونو دترسره کولو څخه ښکاریږی چی څینی ئی په لاندی ډول دی :

۱ :زموږ ضرورت عقیدی ته ترهرڅه زیات دی او همدارنګه زموږ احتیاج دغه عقیدی ته ترهرڅه ډیردی ځکه هیڅ نیکبختی ، نعمت او لوړوالی دزړونولپاره دالله جل جلاله د عبادت او بندګی نه پرته وجود نلری ځکه الله جل جلاله دزړونو پیداکوونکی دی .

۲ -:ترټولو لوړه او مهمه فریضه اسلامی عقیده ده ، له همدی وجی لومړنی شی چی دخلکو څخه غوښتل کیږی لکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ

ژباړه : ماته امر شوی دی ترڅو دخلکو سره ترهغی و جنګیږم چی ګواهی ورکړی چی پرته د الله جل جلاله څخه بل څوک د عبادت وړ نشته او محمد دالله جل جلاله رسول او پیغمبردی.

۳ -:یواځی اسلامی عقیده ده چی دامنیت ،استقرار ، نیکبختی او خوشحالی سبب ګرځی لکه چی الله جل جلاله فرمایی : بَلَى مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُ أَجْرُهُ عِندَ رَبِّهِ وَلاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿112﴾

ژباړه : بلکې ) غیر له دوی هم داخلیږي ( هرڅوک چې وسپاري ځان خپل الله ته حال داچې دی نیکو کار وي نو دی ده لره اجر دده په نزد د رب دده او نه به وي هیڅ قسم ویره په دوی باندي او نه به دوی ) هیڅیږي ( خفه کیږي ) دجزا په وخت کې . )

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامی عقیده هغه یواځنی عقیده ده چی عافیت او پرمختګ منځ ته راوړی لکه چی الله جل جلاله فرمایی :وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُواْ وَ اتَّقَواْ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ ﴿96﴾.

ژباړه : اوکه خلکو ددې کلیو ) ښارونو ( ایمان راوړی وی او تقوی یې ) غوره ( کړی وی نو خامخا پر انیستلې به وې موږ بر دوی باندې ) دروازې د (برکتونو له لوري دآسمانه ) د باران په اورولو ( او له ) لوري ( د ځمکې ) په زرغونولو د محصولاتو . (

۴ -:اسلامی عقیده اسلامی حکومت ته د رسیدلو او دهغه دستنو ټینګولو سبب ګرځی لکه چی الله جل جلاله فرمایی : وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِن بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ ﴿105﴾

ژباړه : او خامخا په تحقیق لیکلي دي موږ په زبور کې وروسته له نصیحت ځخه دا چې بیشکه دد غې ځمکې مالکان کیږی به ) بالاخر هغه ( بندګان زما چې نیکان دي ) او په میراث به ئې وړی . (

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په الله جل جلاله باندی ایمان لرل :

په الله جل جلاله باندی دایمان لرلو معنی : د زړه څخه د الله جل جلاله په موجودیت باور کول او دالله جل جلاله په ربوبیت ، الوهیت ، اسماء او صفاتو باندی اعتراف کول دی .

نو په الله جل جلاله باندی ایمان لرل په څلورو شیانو کی خلاصه کیږی :

۱ -دالله جل جلاله په وجود ایمان لرل.

۲ -دالله جل جلاله په ربوبیت ایمان لرل.

۳ -دالله جل جلاله الوهیت ایمان لرل.

۴ -دالله جل جلاله په اسماء صفاتو ایمان لرل .

ددی مطالبو په اړه تفصیل په لاندی ډول وړاندی کیږی:

## الف : د الله جل جلاله په وجود ایمان لرل :

دالله جل جلاله په وجود ایمان لرل یو فطری کار دی چی هیڅوک ددی په اړه اختلاف نلری پرته دځینو ملحدینو څخه چی الله جل جلاله نه منی نو زیاتره خلک دالله جل جلاله په وجود اقرارکوی او کوم اختلاف په کی نلری .

هرمخلو ق پرته له کومی زده کړی دخپل فطرت نسبت خپل خالق ته کوی له بل پلوه د دوعا غوښتل او دالله جل جلاله له لوری دهغی قبلیدل په یقینی ډول د الله جل جلاله په وجود دلالت کوی لکه چی الله جل جلاله فرمایی : إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ ﴿9﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه » : یادکړی « هغه وخت چې استغاثه به کوله تاسې خپل رب ته نو الله دړورسیده له پاره د ) فریاد ( ستاسې .

ب : پدی باندی ټول پوهیږی چی هره و اقعه او پیښه یو پیدا کوونکی لری ، نو ټول مخلوقات او زموږ په چاپیریال کی چی څه لیدل کیږی باید خالق او پیدا کوونکی ولری چی هغه هم الله جل جلاله دی ، ځکه دا امکان نلری چی کوم کس یا شی د پرته له پیدا کوونکی څخه منځ ته راشی او پیدا کوونکی ونلری ، ځکه هیڅ کس یا شی پخپله ځان نشی پیدا کولی لکه چی الله جل جلاله فرمایې : أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ﴿35﴾ .

ژباړه : آیا پیداکړی شوي دي دوی بې له یو څیز ) خالق پخپل سر ( یا که دوی پخپله پیدا کوونکي دي دځانونو خپلو .

نو ددغه مبارک ایت معنی داشوه چی بدون دپیداکوونکی څخه ندی پیدا شوی او پخپله یې ځانونه ندی پیداکړی ، نو په ښکاره ډول سره معلومیږی چی ددوی پیداکوونکی الله جل جلاله دی.

ج : ددی مخلوقاتو نظم او ترتیب که اسمانونه دی یاځمکه ، ستوری او .... په یقینی ډول پدی دلالت کوی چی دغه نړی پیداکوونکی لری اوهغه هم الله جل جلاله دی لکه چی الله جل جلاله فرمایې : صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ ﴿88﴾ .

ژباړه : هغه ) الله ( چې محکم ) درست ( کړی ئې دي هر څیز ) چې پیدا کړي ئې دي ( بیشکه چې دغه ) الله ( ښه خبردار دی په هغو کارو چې کوی یې تاسې .

نو تاسو ګوری چې دغه نړی د زیاتو کهکشانونو سره سره چې هر یو یې په ملیونونو ستور ي لري او دیو ځانګړی تګ او ګرځیدو لرونکی دي چی یو یي هم دخپل تعین شوي مدار څخه نه تیریږي او دبل سره ټکر نه کوي او له منځه نه ځي او هریو دخپلې تعین شوې دندي په سرته رسیدوکې بوخت دي . لکه چې الله جل جلاله فرمايي : لَا الشَّمْسُ يَنبَغِي لَهَا أَن تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا اللَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ﴿40﴾

ژباړه : نه دی لمر لائق دغه لره ) اوله وسه ئې پوره نه دي ( چې لاندې کړي سپوږمی ) په زمان ، مکان اوصافو کې ( او نه شپه مخکې کیدونکې ده له ورځې څخه ، او دغه ټول ) فلکي اجرام ( په اسمان کې چور لیدونکي دی ) لامبو په کې وهی براخ په کې روان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



.

## ۲ -دالله جل جلاله په ربوبيت ايمان لرل.

**الف** : دالله جل جلاله په ربوبيت دايمان لرلو معنی : پدې باندې اقرار كول چې الله جل جلاله رب او معبود د ټولو شيانو ، مالک ، رازق اوپيدا كوونكی د ټولو دی ، همغه الله جل جلاله پيدا كول كوې او مړه كول كوې ، او همغه الله جل جلاله ګټه او تاوان رسوې ، او ټول كارونه د الله جل جلاله لپاره دې ، خير او نيكې د الله جل جلاله په لاس ده ، او په هرشې الله جل جلاله قادر او توانا دی ، په ټولو پورتنيو كارونوكی شريک نلرې .

د الله جل جلاله په ربوبيت باندی ايمان پدی معنی سره چی په قطعی ډول سره باور وكړی چی الله جل جلاله يواځی هغه ذات دی چی هيڅ ساری او شريک نلری او يواځی همده ته عبادت كيږی او يواځی ټول كارونه پرمخ بيايې او هيچاته ضرورت نلری ،او همداسی په لنډ ډول ايمان په ربوبيت :پدی باندی باور چی يواځی الله جل جلاله د ټولو موجوداتواو ددی نړی خالق دی لكه چی الله جل جلاله فرمايې : اللَّهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ﴿62﴾ .

ژباړه : الله جل جلاله دهرشې پيدا كوونكی دی.

او همدارنګه همدغه الله جل جلاله ټولو مخلوقاتو ته روزی وركوې لكه چې الله جل جلاله فرمايې : وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي الأَرْضِ إِلاَّ عَلَى اللّهِ رِزْقُهَا ﴿6﴾ .

ژباړه : او نشته هيڅ تلونكی ) خو ځيدونكی ذې روح ( په ځمكه كې مګر دی پرالله رزق) روزې ( دهغه تفضلا ترحما نه وجوبا . (

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهمغه الله جل جلاله د ټولو مخلوقاتو مالک او څښتن دی لکه چی الله جل جلاله فرمايي : لِلّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَا فِيهِنَّ ﴿120﴾ .

ژباړه : خاص الله لره دی ملک ) سلطنت ( داسمانونو او سلطنت دځمکې او سلطنت دهغو شيانو چې په دوی کې دي .

ب : الله جل جلاله په ربوبيت کی خپل يو والی په ټولو مخلوقاتو باندی په قرآن کريم کی بيان کړی دی لکه چی فرمايي : الْحَمْدُ للّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿2﴾ .

ژباړه : ټولې ستاينې ) صفتونه ( خاص الله لره دي ، چې پالونکی دعالميانو ) دخپل حکمت له مخې . (

رب العالمين : يعنی خالق ، مالک ، هدايت کوونکی او تربيت ورکوونکی دټولو مخلوقاتو سره دټولو نعمتونودی .

ج : الله جل جلاله په ربوبيت ايمان لرل دانسانانو په فطرت کی په داسی ډول سره ايښی دی چی حتی دپيغمبر صلی الله عليه وسلم په زمانه کی د عربو مشرکين هم داسی عقيده درلوده لکه چی الله جل جلاله فرمايي : قُلْ مَن رَّبُّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ﴿86﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿87﴾ قُلْ مَن بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿88﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ فَأَنَّى تُسْحَرُونَ ﴿89﴾

ژباړه : ووايه څوک دی رب دآسمانونو اوو او رب د عرش ډير لوی نو ژر و به و ائي دوی چې ) دغه ټول ملکا ، خلقا او عبيدا منسوب ( الله ته دي نو ووايه ) ای محمده ! دوی ته چې ( ، آيا پس نه ويريږی تاسې ) له عذابه دالله او ځان نه ساتئ له شرکه ( ، ووايه ) ای محمده ! دوی ته چې ( څوک دی هغه ذات چې په يد ) بلاکيف ( د ده کې پاچاهي تصرف دی دهر څيز او دی پناه ورکوي ) مخلوقاتوته ( او پناه نه ورکوله کيږي په ) ضررد ( ده باندې که يئ تاسې چې پوهيږی ، نو ژر وبه و ائي چې ) دا صفات ( خاص الله لره دي ، وو ايه )ای محمده ! دوی ته ( پس څرنگه تېر دوي ) او کرځي له حقه يا کوم طرف ته سحر درباندې کاوه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یجیر ولایجار علیه :** یعنی د خپلو بندګانو مصیبتونه او بلاوی دفع کوي مګر هیڅوک نشي کولای چې کوم شی الله جل جلاله مقرر کړی وي هغه دفع کړي او مخه ئی ونیسي .

دیادونی وړده چی یواځی د الله جل جلاله په ربوبیت باندی ایمان لرل د مسلمان کیدو لپاره کفایت نکوی بلکی باید د الله جل جلاله په الوهیت هم ایمان ولری ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه مشرکانو سره چی د الله جل جلاله په ربوبیت ایمان درلود هم جګړه وکړه تردی چی د الله جل جلاله په الوهیت هم ایمان راوړی .

**د :** ټول موجودات په نړی کی د آسمان نه نیولی ، ځمکه ، کهکشانونه ، ستوری ، ونی ، انسانان ، پیریان او داسی نور دا ټول د الله جل جلاله فرمانبردار او اطاعت کوونکی دی لکه چی الله جل جلاله فرمائی : وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿83﴾

ژباړه : حال داچې ) خاص ( الله ته غاړه ایښې ده هر هغه چې په آسمانونوکې دی ، ) له علویاتو ( او په ځمکه کې دي ) سفلیاتو سره له اسمانونو او ځمکو ( په خوښه یا په زوره ، او بیا ) خاص ( هم دی ته بیرته بیولی کیږی ) داټول خلق د مجازاتو له پاره نو ښائي چې ټول ، هدایت او اسلام ځانته غوره کړي (

نو هیڅ یو مخلوق د الله جل جلاله د قضاء او قدر څخه بهر ندی ، ځکه چی الله جل جلاله د هغوی مالک دی او هر ډول چی وغواړی الله جل جلاله د خپل حکمت په اساس دهغوی په کارونوکی مداخله او تصرف کوی ، او الله جل جلاله دهغوی پیدا کوونکی دی ، او کوم شیان چی پرته له الله جل جلاله څخه دی دهمده مخلوق او ورته محتاج دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هـ**. نوکله چې همداسې ده نو پرته له الله جل جلاله څخه خالق ، روزی ورکوونکی ، او تدبیر ورکوونکی نشته ، او هیڅ ذره حرکت نشی کولی مګر د الله جل جلاله په خوښه ، نوباید زړونه یواځې الله جل جلاله ته متوجه کړو ، غوښتنې او حاجتونه یواځې دالله جل جلاله څخه وغواړو ، او توکل پرې وکړو چې خالق ، روزی ورکوونکی او مالک زموږدی .

**۳ -د الله جل جلاله په الوهيت باندی ايمان لرل :**

**الف** – پدی باندی یقینی باور او تصدیق لرل چی الله جل جلاله یواځنی ذات د ټولو ظاهری او باطنی عبادتونولائق دی لکه : دعا ، ویره ، توکل ، مرسته غوښتل ، لمونځ ، زکات ، روژه او داسی نور.

نو پدی صورت کی بنده یقین لری چی یواځې الله جل جلاله دهغه معبود دی ، شریک او ساری نلری ، او پرته له الله جل جلاله څخه معبود برحق وجود نلری لکه چی الله جل جلاله فرمائی : وَإِلَـٰهُكُمْ إِلَـٰهٌ وَاحِدٌ لاَّ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ ﴿163﴾

ژباړه : او معبود ستاسې معبود یو دی ، نشته بل څوک لائق دعبادت مګر هم دی ، خورا) ډیر ( مهربان پوره رحم لرونکی دی .

الله جل جلاله پدې آیت شریف خبر راکړی چې معبود یودی او یواځې یوالله دی ، نو باید دالله جل جلاله څخه پرته بل معبود ونه نیول شي او نه يي عبادت وشي .

**ب – همدارنګه دالله جل جلاله په عبادت باندی ايمان لرل :**

يعني پدی باندی ایمان لرل چې یواځې الله جل جلاله په حقه معبود دی او هیڅ شریک نلري.

**اله** : يعني هغه معبود چې مينه ورسره ولرو، تعظيم او لويي يي بيان کړو ، او خپل ټول عبادتونه او طاعتونه صرف دالله جل جلاله لپاره وګرځوو ، او پرته له الله جل جلاله څخه بل چاته آواز ونه کړ و، او له همدغه الله څخه پرته دبل چاڅخه ونه ډار شو ، او پرته له ده څخه په بل چاتوکل ونه کړو ، او پرته له الله جل جلاله څخه بل چاته سجده ، اطاعت او خضوع ونکړو ، لکه چې الله جل جلاله فرمايي : إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ . (5)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توحید

## دماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره

ژباړه : خاص تاته یا الله عبادت کوو او خاص ستاڅخه مرسته او مدد غواړو.

**دالله په الوهیت باندی دایمان لرلو اهمیت :**

لاندی شیان د الله جل جلاله په الوهیت دایمان لرلو د اهمیت ښکارندوی دي:

١-د انسانانو او پیریانو دپیدایښت څخه مقصد دیو الله جل جلاله عبادت کول دي چې هیڅ شریک نلري لکه چې فرمایي : وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ .

ژباړه : ما پیریان او انسانان یوازې د دې لپاره پیدا کړي چې ؤماعبادت وکړي.«.

٢-د پیغمبرانو علیهم السلام د رالیږلو او اسماني کتابونو نازلیدل هم پدې څرګند اقرار دئ چې الله جل جلاله په حقه معبود دی لکه چې فرمائي : وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُواْ اللهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ ﴿36﴾

ژباړه : او بېشکه موږ په هر امت کې یو پیغمبر استولی دی چې وو ایي» :دالله عبادت وکړئ او له طاغوت څخه ډډه وکړئ«.

٣-لومړئ شی چې په هرشخص واجب دی د الله جل جلاله په الوهیت باندی ایمان لرل دي لکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم معاذ بن جبل رضی الله عنه ته ، یمن ته دلېږلو په مهال وفرمایل : إنك تأتي قوماً من أهل الكتاب فليكن أول ما تدعوهم إليه شهادة أن لا إله إلا الله..

ژباړه : بیشکه تاته به داهل کتابو( یهودانو او نصرانیانو ) څخه یوه ډله راځي نو لومړنی شی چې ته یی ورته رابولی شَهَادَةِ أَنْ لاإِلَهَ إلااللَّهُ ده . یعني دوی ددې لپاره دعوت کړه چې تول عبادات یواځې د یو الله جل جلاله لپاره ترسره کړي .

**د -د أَنْ لاإِلَهَ إلااللَّهُ معنی:**

دغه اوچته کلمه په هرشخص لومړنی او اخرینی واجب دی چې باید ترسره یې کړي ، ځکه هرڅوک چې پدې عقیده ولري او بیا مړشي جنتي دی لکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي : مَن ماتَ وهو يَعْلَمُ أنّه لا إلَهَ إلَّا اللَّهُ، دَخَلَ الجَنَّةَ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه :پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلی دي : څوک چې مړشي او پدې پوه وي او اعتقاد پرې ولري چې پرته له الله جل جلاله څخه بل څوک د عبادت وړ نشته جنت ته داخليږي . دغه حديث مسلم شريف روايت کړی دی.

نو د لاإِلَهَ إِلااللَّهُ پيژندل او ځان پرې پوه کول د ډيرو او چتو او مهمو واجباتو څخه دي .

لاإِلَهَ إِلااللَّهُ يعني پرته له الله جل جلاله څخه هيڅوک دعبادت وړ نشته.

پورتنی مطلب د الله جل جلاله ټول صفات  د غير الله څخه نفی کوي ، او هغه يواځې د يو الله جل جلاله لپاره چې هيڅ شريک نلري ثابتوی .

اله : يعني معبود ، هرڅوک چې د کوم شی يا کوم شخص عبادت  د الله جل جلاله څخه پرته وکړي دهغه معبود دی.

يواځې الله جل جلاله حقيقي معبود دی چې زړونه د هغه د محبت ، لويی ، لوړوالي ، او هغه ذات ته عاجزی ، خضوع ، ويره ، توکل او دهغه څخه غوښتنه ، دعا او عبادت کوي .

هـ - د لاإِلَهَ إِلااللَّهُ ارکان : دغه لويه کلمه دوه رکنه لری:

اول رکن : لاإِلَهَ دی چې دغير الله عبادت نفی کوي ، شرک باطلوی ، په باطلو معبودانو باندی کفر او دهغوی د عبادت څخه انکار واجبوی.

دوهم رکن : إِلااللَّهُ يعني د يو الله جل جلاله لپاره عبادت ثابتول ، او د ټولو انواعو عبادت د الله جل جلاله لپاره ترسره کول . لکه چې الله جل جلاله فرمايي : فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىَ لاَ انفِصَامَ لَهَا وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿256﴾ .

ژباړه : نو د ) فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ ( د لومړی رکن ) لاإِلَهَ ( ، او ) وَيُؤْمِن بِاللّهِ ( ددوهم رکن ) إِلااللَّهُ ( معنی لری.

و -د لاإِلَهَ إِلااللَّهُ شرطونه:

دويلو وړ ده چې د ويونکي  په ويلو او شهادت کی بايد اووه شرطونه مراعات شي او که داسې ونشي نو ويونکی ته يی کومه ګټه نشي ور رسيدلی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توحید

## دماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره

۱-علم : یعنی پدی کلیمی باندی ځان پوهول چی په هغی کی دنورو ټولو باطلو معبودانو نه انکار کول او دیو الله جل جلاله دربوبیت ، الوهیت او اسماؤ صفاتو اقرارکول او منل دی ددی شرط دلیل دقرآن کریم دغه مبارک آیت دی چی الله جل جلاله فرمائی} : فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ .{

ژباړه : پوه شه ای مخاطبه ! چی نشته په رښتیا سره دعبادت او بندګی ، حقدار غیر دالله جل جلاله نه.

۲-یقین: پدی کلیمی داسی کامل یقین کول چی په هغی کې دشک او ګمان لپاره څه مجال نه وي که چیرې ویونکی د شک ا وتردید سره مخ شو نو پورتنی مبارکه کلیمه ورته کومه ګټه نشي رسولی ،لکه چې الله جل جلاله فرمائی }:إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَ رَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا .

ژباړه : الله جل جلاله فرمائی یقینا مؤمنان هغه کسان دی چی ایمان یي راوړی وي په الله جل جلاله او رسول صلی الله علیه وسلم باندې بیا یی شک او تردد نه وي کړی .

۳ -قبول والی او منل : یعنی ددی کلیمی لاندی چی څه احکام دی هغه منل په خپل دبو الله جل جلاله عبادت کول او دغیر الله عبادت پریښودل ، نو که ویونکی ددې کلیمی ټول عبادات دالله جل جلاله لپاره ونه بولي ، دهغه چا په څیر دی چې الله جل جلاله یی په اړه فرمایلی دی : إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ، وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوا آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍ ﴿36﴾ . }

ژباړه : یقینا دوی هغه خلک دی کله چې به دوی دتوحید کلیمې طرف ته را بلل کیدل نو دوی به تکبر او لویی کوله . تکبر په معنا دنه منلو دحق دی نو هغوی که په ژبه ویل خو منلو ته تیار نه وو نوځکه هغوی مشرکان پاتی شول........................ .

۴ -دځان تسلیمیدل : د هغه څه په اړه چې د غه مبارکه کلیمه پرې دلالت کوي ځان تسلیمول دي لکه چې الله جل جلاله فرمایي : وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى وَإِلَى اللَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ ﴿22﴾ سورت لقمان.

ژباړه- : يُسْلِمْ وَجْهَهُ : یعني د الله جل جلاله فرمان ته تسلیم شي.

-الْعُرْوَةِ الْوُثْقَى : همغه د لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مبارکه کلیمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵ -صدق : يعنې د لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ د مبارکې کليمې په ويلو کې رښتينې وي د زړه له تل څخه دغه مبارکه کليمه وو ايي لکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پدې باره کې فرمايلې دي : قَالَ " : مَا مِنْ أَحَدٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ صِدْقًا مِنْ قَلْبِهِ ، إِلَّا حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ.

ژباړه : نشته هيڅ يوبنده دالله جل جلاله چې هغه ګواهی کوی په رښتيا سره پدې خبره چې نشته حقدار دبندګی اوعبادت په رښتيا سره غير دالله جل جلاله نه اوګواهي کوي پدې خبرې چې محمد صلی الله عليه وسلم دالله جل جلاله بنده اورسول دي په رښتيا سره دخپل زړه نه مګر الله جل جلاله حرام کړی دی په هغه باندې دجهنم اور.

۶ -اخلاص: يعنې مسلمان خپل عمل د ټولو انواعو دشرک څخه خالص وګرځوي پدې ډول چې ځوک د دې مبارکې کليمې د ويلو څخه کوم دنيوي شی حاصلوی مطلب نه وي ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دي : فإن الله حرَّم على النار مَنْ قال :لا إله إلا الله، يَبْتَغِي بذلك وجهَ الله

ژباړه : بيشکه الله جل جلاله په هغه چا چې لا إله إلا الله کليمه يي يوازې د الله جل جلاله د رضا لپاره ويلې وي اور حرام کړی دی .

۷ -محبت : د دغې کليمې سره مينه لرل ا و د هغه څه سره مينه لرل چې کليمه پری دلالت کوي او دهغه چا سر ه مينه لرل چې ددې کليمی په غوښتنو عمل کوي يعنې ) د دی کليمی سره مينه کول معناداچې دغه مبارکه کليمه دکوم شي ښودنه او تعليم ورکوی دهغې سره مينه او محبت کول اودڅه نه چې انسان منع کوي دهغې نه ځان ژغورل (لکه چې الله جل جلاله فرمايي : وَمِنَ النَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ اللهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللهِ وَالَّذِينَ آمَنُواْ أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ ﴿165﴾ .

ژباړه : ځينې دخلکو نه هغه ځوک دی چې نيسی غير دالله جل جلاله نه نور همسيالی اوشريکان او مينه کوی دهغوی سره په شان دمحبت کولودالله جل جلاله سره او

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هغه کسان چې توحید والادی او حقیقی مؤمنان دی هغوی ډیر زیات محبت کوونکی دی دالله جل جلاله سره .

نو د لا إله إلا الله والا هغه څوک دي چې د الله جل جلاله سره خالصه دوستي لري ، او مشرکان د الله جل جلاله سره په دوستی کې شرک کوي ، یعني نور معبودان هم دوست ګڼي چې داکار د لا إله إلا الله سره په تضاد کې دی .

ز -دعبادت معنی:

-عبادت : دټولو خبرو او عملونو هغه جامع نوم دی چې الله جل جلاله یې دوست ګڼي او خوښوي یې، لکه: د الله جل جلاله او رسول صلی الله علیه وسلم سره محبت کول ، د الله جل جلاله څخه ویره ، په الله جل جلاله باندې توکل کول ، د الله جل جلاله څخه طلب او غوښتنه ، لمونځ کول ، زکات ورکول ، د مور او پلار حقوق په ځای کول ، د الله جل جلاله ذکر کول ، د کفارو او منافقینو په وړاندی جهاد کول او ........

نو عبادت ډیر اقسام لري چې د طاعاتو ډیر قسمونه هم په کې راځي لکه : دقرآن کریم تلاوت ، د غریبانو او مسکینانو سره نیکي کول ، رښتینولي ، امانت داری ، ښې خبرې .

نو عبادت هغو ټولو اړخونو ته شامیلیږی چې یو مؤمن مسلمان یې الله جل جلاله ته د نزدیک والی په نیت ترسره کوي ، آن تردې که څوک خوړل ، څښل ، او خوب کول د الله جل جلاله د اطاعت په مقصد ترسره کړي ان شاء الله اجر او ثواب ترلاسه کولی شي ،

-او بېشکه موږ په هر امت کې یو رسول را لیږلی و، په دې بلنې سره چې :د الله عبادت وکړئ او له طاغوت څخه ځان وساتئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳.تر ټولو لومړی شی چې پر هر انسان واجب دی، د الله تعالی پر الوهيت ايمان راوړل دي .لکه څنګه چې د رسول الله ﷺ هغه وصيت چې معاذ بن جبل ته يې وکړ، کله چې يې يمن ته لېږه، راغلي دي:

«إِنَّكَ تَأْتِي قَوْماً من أهل الْكِتَابِ فَلْيَكُنْ أَوَّلُ مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ شَهَادَةَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ .»

-ژباړه :ته داسي قوم ته روان يې چې د کتاب خاوندان دي، يعني يهود او نصارا دي .نو تر ټولو لومړی شی چې ته يې هغوی ته بلنه ورکوې دا دی چې ګوهي ورکړي چې له الله پرته بل حق معبود نشته .يعني هغوی دې ته راوبلې چې ټول عبادتونه يوازې د يو الله لپاره ترسره کړي.

د.د» لا إله إلا الله «معنی :

-دا لويه کلمه د هر انسان لپاره لومړنی او وروستی واجب دی .نو هر څوک چې په دې کلمه د باور په حالت کې مړ شي، هغه د جنت اهل دی .لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمايي » :مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ دَخَلَ الجنة .

-يعني :هر څوک چې په داسې حال کې مړ شي چې پوهېږي له الله پرته بل حق معبود نشته، هغه جنت ته داخلېږي.

نو د» لا إله إلا الله «پېژندنه او پوهه له تر ټولو سترو او مهمو واجباتو څخه ده.

»لا إله إلا الله «معني دا ده چې :له يو الله پرته بل هېڅ حق معبود نشته.

دا جمله د الله پرته د هر څه څخه د الوهيت ټول صفتونه نفې کوي، او دا صفتونه يوازې د هغه يکتا الله لپاره ثابتوي چې هېڅ شريک نه لري.

»اله «يعني معبود، او هر څوک چې د يو شی يا يو کس عبادت کړي، هماغه د هغه معبود ګڼل کېږي ».

يوازې الله تعالی حق معبود دی، او زړونه د مينې، درناوي، تعظيم، عاجزی، وېرې، توکل او دعا غوښتلو سره يوازې د هغه ) الله ( عبادت کوي.

او زړونو ته هېڅ رښتينی خوشحالي او نېکمرغي نه رسېږي، مګر د» لا إله إلا الله «د حقيقي معنا په پلي کېدو سره .ځکه رښتيني خوشالي او ښه ژوند يوازې د يو الله په عبادت پورې تړلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هـ. د» لا إله إلا الله «اركان:**

دا ستره کلمه دوه اركان لري:

**لومړی رکن» :لا إله »**

يعني د الله پرته د هر چا او هر شي عبادت رد کول، شرک باطل ګڼل، او د باطلو معبودانو څخه بيزاري کول واجب بلل.

**دوهم رکن» :إلا الله »**

يعني عبادت يوازې د يو الله لپاره ثابتول، او د عبادت ټول ډولونه يوازې د هغه لپاره ترسره کول.

لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي:

منَ الغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنَ بالله فقد استمسك بالعروة الوثقى .

-نو هر څوک چې د طاغوت عبادت رد کړي او پر الله ايمان راوړي، نو بېشکه هغه يو ډېر ټينګ لاسوند نيولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو:

)فمن يکفر بالطاغوت (د لومړي رکن» لا إله «معنا ده،

او) ويؤمن بالله (د دوهم رکن» إلا الله «معنا رانغاړي.

و.د» لا إله إلا الله «شرطونه:

-د يادونې وړ ده چې د شهادت ويلو، يعنې» لا إله إلا الله «په ويلو کې بايد اووه شرطونه پوره شي، که نه نو ويونکی به ترې ګټه وا نه اخلي.

١.د لا إله إلا الله پر معنی پوهېدل :

لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي:

فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ﴾

يعنې : نو پوه شه چې له الله پرته بل حق معبود نشته.

٢.يقين :

يعنې ويونکی بايد پر هغه څه بشپړ باور ولري چې دا کلمه پرې دلالت کوي .که چېرې شک او ترديد ولري، نو دا کلمه ورته هېڅ ګټه نه رسوي .لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي:

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا .

بېشکه رښتيني مؤمنان هغه کسان دي چې پر الله او د هغه پر رسول ايمان راوړي، او بيا هېڅ شک په زړه کې ځای نه ورکوي.

٣.منل) قبولول:

يعنې هغه څه منل چې دا کلمه پرې دلالت کوي، يعنې يوازې د يو الله عبادت کول او د هغه پرته د هر چا عبادت پرېښودل .که څوک دا کلمه ووايي خو ټول عبادتونه يوازې د الله لپاره ونه ګڼي، نو د هغه مثال د هغو کسانو په څېر دی چې الله تعالی يې په اړه فرمايي:

إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَهَ إِلا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوا آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَجْنُونٍ ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی داسې خلک وو چې کله به ورته وویل شول :له الله پرته بل حق معبود نشته، نو تکبر به يې کاوه او ویل به يې :ايا مونږ خپل معبودان د یوه لېوني شاعر له امله پرېږدو؟

## ۴ .تسليمېدل :

يعني د دې کلمې غوښتنو ته بشپړ تسليمېدل .لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي:

وَمَنْ يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى وَإِلَى اللَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُور

يعني : څوک چې خپل مخ) ځان (الله ته وسپاري، په داسې حال کې چې نيکوکار وي، نو بېشکه هغه کلک لاسوند) ټينګه رسۍ (نيولې ده، او د ټولو چارو پايله الله ته ورګرځي.

« يُسْلِمْ وَجْهَهُ »يعني د الله حکم ته تسليم شي.

او» العروة الوثقى «همدا» لا إله إلا الله «ده.

## ۵ .صدق) رښتينولي:(

يعني دا کلمه بايد له زړه او په رښتينولۍ سره وو ايي .رسول الله ﷺ فرمايي:

»مَا مِنْ أَحَدٍ يَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ صِدْقًا مِنْ قَلْبِهِ إِلا حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّار. «

يعني : هر څوک چې په رښتيا او د زړه له کومې شهادت ورکړي چې له الله پرته بل حق معبود نشته او محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دی، نو الله تعالی به دوزخ پرې حرام کړي.

## ۶ .اخلاص :

يعني عمل يوازې د الله لپاره خالص کول او له هر ډول شرک څخه يې پاکول .دا چې څوک دا کلمه د دنيا د کومې ګټې لپاره ونه و ايي .رسول الله ﷺ فرمايي » :إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى النَّارِ مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، يَبْتَغِي بِذَلِكَ وَجْهَ الله «

-بېشکه الله تعالی هغه کس پر اور حرام کړی دی چې» لا إله إلا الله «وو ايي او په دې سره يوازې د الله رضا غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۷. مينه :

يعني د دې کلمې او د هغې د غوښتنو سره مينه کول، او له هغو کسانو سره مينه کول چې پر دې کلمه عمل کوي .لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي:

-وَمِنَ النَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَندَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ .

-او له خلکو څخه ځينې داسې دي چې د الله پرته نور شريکان نيسي، هغوی د الله په شان خوښوي، خو مؤمنان الله ډېر سخت خوښوي.او ډېره زياته مينه ورسره لري .

-د» لا إله إلا الله «خاوندان له الله سره خالصه مينه لري، خو مشرکان حتی په مينه کې هم شرک کوي، يعنې له الله سره نور معبودان هم خوښوي، او دا کار د» لا إله إلا الله «له معنی سره په ټکر کې دی.

### ز. د عبادت معنی:

-عبادت د هر هغه ښکاره او پټې وينا او عمل نوم دی چې الله يې خوښوي او پرې راضي وي؛ لکه د الله او د هغه د رسول سره مينه، له الله ويره، پر هغه توکل، له هغه غوښتنه، لمونځ، زکات، د مور او پلار اطاعت، د الله ذکر، د کافرانو او منافقانو پر ضد جهاد او نور.

نو عبادت ډېر ډولونه لري او هر ډول طاعتونه په کې شامل دی، لکه د قرأن کريم تلاوت، له فقيرانو او اړمنو سره مرسته، رښتينولي، امانتداري او ښه وينا.

عبادت د مؤمن ټول هغه کارونه رانغاړي چې د الله د نږدې کېدو په نيت يې ترسره کوي.

حتی که د انسان خوړل، څښل او ويده کېدل هم د الله د اطاعت په نيت وي، نو اجر او ثواب به ورته وليکل شي.

لنډه دا چې که زموږ عادي کارونه د الله د رضا په نيت ترسره شي، نو عبادت ګرځي او د ثواب وړ کېږي، ځکه عبادت يوازې لمونځ او روژه نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ح . الله تعالی مخلوقات د عبادت لپاره پیدا کړي دي:**

لکه څنګه چې فرمايي :وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ مَا أُرِيدُ مِنْهُمْ مِنْ رِزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَنْ يُطْعِمُونِ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ .

يعني- : ما پيريان او انسانان يوازې د دې لپاره پيدا کړي چې زما عبادت وکړي .زه له هغوی څخه روزي نه غواړم او نه دا غواړم چې ما ته خوراک راکړي، بېشکه الله پخپله روزي ورکوونکی، د ځواک څښتن او ډېر قوي دی.

-الله تعالی د پيريانو او انسانانو د پيدا کولو حکمت عبادت ګڼي، حال دا چې هغه د دوی عبادت ته اړتيا نه لري، بلکې هغوی د خپلې اړتيا له امله د الله عبادت ته محتاج دي.

-د بنده اړتيا د الله عبادت او له هغه سره شرک نه کول، له اوبو او خوړو هم ډېره مهمه ده.

او که د انسان زړه د عبادت خوږوالی او اخلاص وڅکي، نو بيا به د هغه لپاره له عبادته بل هېڅ شی خوږ نه وي.

همدارنګه، هېڅ څوک د الله د بندګۍ له دايرې پرته د دنيا له ستونزو خلاصون نه مومي.

**ط . د عبادت ارکان:**

هغه عبادت چې الله موږ پرې مکلف کړي يو، دوه رکنه لري:

۱ . بشپړه عاجزي او ويره.

۲ . بشپړه مينه.

-هغه عبادت چې الله تعالی پر خپلو بندګانو فرض کړی بايد د بشپړې عاجزۍ، وېرې، مينې، شوق او هيلې سره ترسره شي.

-ويلې شو :مينه پرته له ويرې او عاجزۍ لکه د خوراک يا مال سره مينه عبادت نه دی .همدارنګه، ويره پرته له مينې لکه د ښکاري حيوان څخه وېره هم عبادت نه شمېرل کېږي .يواځې کله چې ويره او مينه دواړه د عمل سره يوځای شي، نو هغه عبادت بلل کېږي، او عبادت يوازې د يو الله جل جلاله لپاره صحيح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ی – توحيد د عبادت د قبلېدو سبب دی :

-هغه عبادت چې الله تعالی امر پرې کړی له توحيد پرته د عبادت په توګه نه ګڼل کېږي .عبادت چې له شرک سره وي، سم نه دی او هېڅوک نه شي ويلای" که څوک د الله جل جلاله عبادت وکړي، خو عبادت يې له توحيد سره نه وي، نو هغه عبادت نه قبليږي ."هر څوک چې د الله عبادت کوي او په عبادت کې بل څوک ورسره شريک کړي، په حقيقت کې يې د الله عبادت نه دی کړی.

-نو توحيد، اخلاص د عبادت لپاره، او له شرک څخه ځان ساتل د عبادت د قبلېدو شرط دی .برسېره پر دې، عبادت يوازې هغه وخت قبلېږي چې د اسلامي شريعت او د رسول الله دسنتو سره سم وي.

### د عبادت د قبلېدو دوه شرطونه دي:

١ .عبادت بايد د الله د حکم او د رسول الله د سنتو سره سم وي.

لکه څنګه چې الله فرمايي :﴿بَلَى مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهُ أَجْرُهُ عِنْدَ رَبِّهِ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾

يعني ) : هو، هر څوک چې په نيکی سره خپل مخ الله ته وګرځوي، اجر يې د پروردګار په نزد دی، نه به وېره ولري او نه به خپه شي . (

أسلم وجهه : معنی يی داده : چې په حقيقت کې توحيد ومني او عبادت يوازې د الله لپاره وکړي.

وهو محسن : معنی يی داده : چې د رسول الله پيروي وکړي.

### ک – شرک:

-شرک د يو الله پر الوهيت له ايمان سره ښکاره ټکر لري .ځکه چې يوازې د يو الله عبادت کول د ايمان له بنسټيزو او مهمو واجباتوڅخه دي .نو کله چې يو څوک په عبادت کې له الله سره بل څوک شريک کړي، هغه د ايمان د همدې اساسي اصل مخالفت کوي .له همدې کبله شرک تر ټولو لويه ګناه او ستر معصيت ګڼل کېږي، ځکه چې دا د دين بنسټ زيانمنوي.

.لکه څنګه چې الله فرمايي:

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



-يعني : بېشکه الله دا نه بښي چې له هغه سره شريک ونيول شي، او له دې نه پرته نور گناهونه د چا لپاره چې وغواړي بښي يې.

-همدارنگه فرمايي :﴿إِنَّ الشَّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾

يعني - : شرک يو ستر ظلم دی.

-پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته پوښتنه وشوه :ستره گناه کومه ده؟ هغه وفرمايل:

»أن تَجْعَلَ للَّهَ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ «

-دا چې ته له الله سره بل څوک برابر او شريک وگرځوې، حال دا چې هماغه الله ته پيدا کړې يې.

-شرک عبادت باطلوي، لکه څنگه چې الله فرمايي:

﴿وَلَوْ أَشْرَكُوا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾

او که هغوی شرک کړی وای، نو هر هغه عمل چې دوی کاوه، يقيناً له منځه به تللی وای) بې‌گټې به شوی وای .(يعني : که څوک شرک وکړي، هغه څه چې يې کړي له منځه ځي.

همدارنگه، مشرک به تل د دوزخ په اور کې پاتې وي:

الله جل جلاله فرمايي : ﴿إِنَّهُ مَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ﴾

-بېشکه هر څوک چې له الله سره شريک ونيسي، نو الله جنت پرې حرام کړی دی، او د هغه استوگنځای اور دی.

شرک په دوه ډوله دی:

١ .شرک اکبر :هغه وخت وی چې د عبادت کوم عمل د الله پرته د بل چا لپاره ترسره شي. لکه د روژې يا روغتيا غوښتل له بل چا ) غير الله، (ښځه , يا پر بل چا توکل کول، يا د بل چا لپاره سجده کول .لکه څنگه چې الله تعالی فرمايي :وَقَالَ رَبُّكُمْ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ «

ژباړه :او ستاسو پالونکي وويل :ما ته دعا وکړئ، زه به يې قبوله کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-الله جل جلاله فرمايلي دي : وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ . آل عمران . 160

ژباړه:او مؤمنان بايد پر الله توکل وکړي.

دا آيت پر الله جل جلاله د مؤمنانو د باور او اعتماد په ټينګار دلالت کوي، په ځانګړي ډول په ستونزو او جګړو کې.

او همدارنګه فرمايي :فَاسْجُدُوا لِلَّهِ وَاعْبُدُوا »

ژباړه :نو يوازې د الله لپاره سجده وکړئ او د هغه عبادت وکړئ.

-نو ځکه چې دعا، توکل او سجده هغه عبادتونه دي چې الله پرې امر کړی، که څوک دا عبادتونه يوازې د الله لپاره وکړي، هغه موحد او مؤمن دی، او که د الله پرته بل چا لپاره يې ترسره کړي، هغه مشرک او کافر دی.

٢ .شرک اصغر :هغه خبره يا عمل دی چې انسان د شرکِ اکبر پر لور بيايي.

لکه :قبر مسجد ګرځول، يعنې د قبر تر څنګ لمونځ کول يا پر قبر باندې جومات جوړول، او دا کار حرام دی او کوونکی يې د الله په لعنت او د هغه له رحمته د لرې کېدو په وعده ګواښل شوی دی، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمايي) :لعنةُ الله على اليهودِ والنصارى اتخذوا قبورَ أنبيائهم مساجد .(

يعني : د الله لعنت دې وي پر يهودو او نصاراوو، چې د خپلو پيغمبرانو قبرونه يې مسجدونه ګرځولي دي.

د قبرونو مسجد ګرځول حرام دي، ځکه دا د مړو څخه د دعا غوښتلو او له هغوی څخه د حاجت غوښتلو وسيله ګرځي، او دا پخپله شرکِ اکبر شمېرل کېږي.

۴– د الله په اسماء او صفاتو ايمان :

الف – د الله بيان د هغه په نومونو او صفاتو چې ځان ته يې نسبت ورکړی يا د رسول الله له لارې څرګند شوي .الله په خپلو نومونو او صفاتو کې بې مثاله دی .لکه څنګه چې فرمايي :﴿- فَاطِرُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَمِنَ الْأَنْعَامِ أَزْوَاجًا ۖ يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ ۚ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۖ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعني : هغه د اسمانونو او ځمکې پیدا کوونکی دی، هغه ستاسې لپاره له خپلو ځانونو جوړې) مېرمنې ( پیدا کړې او له څارویو څخه هم جوړې، په دې سره تاسې زیاتوي .د هغه په شان هېڅ شی نشته، او هغه ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی .

-ځینې نومونه :رحمان :ډېر مهربان، بې پایه رحم کوونکی .لکه څنګه چې فرمايي) :الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ——

یعنی : ډېر مهربان، ډېر رحم کوونکی .

لکه څنګه چې فرمايي) :وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ——

یعني : او هغه ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی.

بصیر :ښه لیدونکی، دهر څه بشپړ لید ونکی.

عزیز :برلاسی، ځواکمن او د عزت څښتن.

حکیم :بشپړ حکمت لرونکی، په هر کار کې د حکمت او پوهې خاوند.

-الله جل جلاله فرمايي :وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ——

یعني : هغه برلاسی، د حکمت څښتن دی.

**ب - د الله د نومونو او صفتونو پر ایمان پایلې :**

۱ - د الله پېژندنه :څوک چې د الله پر نومونو او صفتونو ایمان راوړي، د الله په اړه یې پېژندنه زیاتېږي او په یقین سره یې پر الله ایمان هم زیاتېږي، او توحید یې لا ټینګېږي.

۲ - د الله شکر او ستاینه د هغه د نومونو او صفتونو په وسیله کول، او دا د الله د ذکر تر ټولو غوره ډول دی، لکه څنګه چې فرمايي :﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾ ——

یعني : ای مؤمنانو !الله ډېر یاد کړئ.

۳ - د الله د نومونو او صفتونو په وسیله دعا غوښتل، لکه څنګه چې فرمايي :﴿وَلِلَّهِ الأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا﴾ ——

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني : الله ته ښکلي نومونه دي، نو هغه په همدغو نومونو وبولئ.

لکه دا چي وو ايي» :اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّكَ الرَّزَّاقُ فَارْزُقْنِي«...

-ای الله !زه له تا غوښتنه کوم، ته چي روزي ورکوونکی یې، ما ته روزي راکړه.

۴ - د الله پر نومونو او صفتونو دايمان له پايلې څخه دی :په دنيا کې نېکمرغي او ښه ژوند، او په آخرت کې د جنت نعمتونه.

دايمان آثار :

-ايمان پر الله د دنيا او آخرت دواړو لپاره ښې پايلې لري .ايمان د دنيا او آخرت ټولې نېکې چارې راجلبوي او له هر ډول بدی او بلا څخه يې ساتنه کوي.

دلته د ايمان ځيني مهمې پايلې دادي:

۱ -الله تعالی د مؤمنانو ټول کړاوونه او سختئ له منځه وړي، هغوی له ګناه ساتي او د دښمن د دسيسو پر وړاندې یې خوندي کوي، لکه څنګه چي فرمايي :﴿إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنْ الَّذِينَ آمَنُوا﴾ ——

يعنی- : الله د مؤمنانو دفاع کوي او هغوی د ايمان په سبب بريالي کوي.

۲ -ايمان انسان ته پاک ژوند او نېکمرغي ورکوي، لکه څنګه چي فرمايي :﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً﴾ ——

-هر څوک، که نارينه وي او که ښځه، نېکې چارې وکړي او ايمان ولري، موږ ورته پاک او خوښ ژوند ورکوو.

۳ -ايمان دانسان نفس له خر افاتو پاکوي .څوک چي په رښتيا په الله ايمان ولري، ټول کارونه الله ته سپاري، ځکه چي هغه د ټولو نړۍوالو رب دی او د هغه پرته هېڅ رښتينی معبود نشته .مؤمن له مخلوق نه نه وېرېږي، زړه په چا نه تړي، او ځان له خر افاتو، اوهامو او بې بنسټه خيالونو ازادوي.

۴ -يو بل اغېز د ايمان دا دی چي انسان بريالی کېږي، له خطر او اضطراب څخه خوندي پاتې کېږي او خپلې غوښتنې ترلاسه کوي، لکه څنګه چي فرمايي :﴿أُولَئِكَ عَلَى هُدًى مِنْ رَبِّهِمْ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ ——

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني : دا کسان د خپل رب پر لاره دي او همدا کسان رستګار دي.

۵ -ستره پايله يې دا ده چې په ايمان د الله رضا ترلاسه کيږي، جنت ته داخليږي او د تلپاتو نعمتونو او بشپړې رحمت ترلاسه کول دي.

**په فرښتو ايمان لرل :**

الف – د فرښتو په وجود باور کول .

-يعني : هغوی بندګان دي او د الله فرمانونه ترسره کوي:

-الله جل جلاله فرمائی : ﴿بَلْ عِبَادُ مُكْرَمُونَ لا يَسْبَقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ﴾

**-د فرښتو په اړه ايمان څلور برخې لري:**

١ .د هغوی په وجود ايمان.

٢ .په هغو نومونو ايمان چې پيژندل شوي، لکه جبرائيل.

٣ .په هغو صفاتو ايمان چې پيژندل شوي.

۴ .د هغو په اعمالو ايمان چې د الله په امريي ترسره کوي، لکه عبادت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-بايد وويل شي چې په فرښتو باندې ايمان , دايمان له ارکانو څخه دی لکه څنګه چې الله جل جلاله فرمائي : ﴿آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ﴾

**ب – د فرښتو صفات :**

-فرښتې له نور څخه جوړې شوي دي او وزرونه لري .ځينې فرښتې لکه جبرائيل شپږ سوه بالونه لري .کله ناکله د الله په خوښه د انسان په بڼه څرګنديږي .د فرشتو دنده يوازې د الله عبادت کول او هيڅ ربوبيت يا الوهيت نلري.

**ج – د فرښتو ډولونه او دندې:**

١ .جبرائيل :پيغمبر انو ته د وحی راوړلو دنده لري.

٢ ميکائيل . : د باران د کيدو اوهرځای ته يې دليږلو دنده لري .

٣ .اسرافيل :د شپيلۍ پوکيدو دنده لري .

۴ .ملک الموت او دهغه ملګری : د ارواح اخستلودنده لري.

۵;کرام الکاتبين - : هغه فرښتې چې د انسان د ښو او بدو عملونو د ثبت کولو مسوول دي،

۶معقباتې فرښتې - : نورې فرښتې شته چې د انسانانو د ساتنې او حفاظت مسووليت لري.

-ځينې فرښتې د دوزخ ساتونکې دي او ځينې نورې د ښو مجلسونو او ذکر په لټه کې دي .ځينې يې د غرونو مسوولې دي، او ځينې يې په صفونو کې ولاړې وي او هيڅکله نه ستړې کيږي . په حقيقت کې، هيڅوا ته د الله جل جلاله د پوځونو شمير معلوم نه دی.

**د -په فرښتو دايمان اثرات:**

په فرښتو باندې ايمان مهمې اغيزې لري، چې ځينې يې دا دي:

١ .**د الله عظمت او د هغه په بشپړ قدرت پوهه** :ځکه چې د مخلوق عظمت د خالق عظمت ښيي، کله چې مؤمن پوه شي چې الله تعالی فرښتې د رڼا نه جوړې کړې دي چې مختلف وزرونه لري، نو هغه الله ته به په زيات عزت او قدر سره وګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ .د الله تعالی په عبادت کې ثابت قدمی او ټينګښت :هر څوک چې په دې ايمان ولري چې فرښتې شتون لري او د هغه ټول عملونه ليکي، نو هغه به له الله څخه ډير وډار شي نو نه به په پټه او نه په علني توګه ګناه وکړي.

۳ .په عبادت کې صبر او د آرامی احساس :کله چې مؤمن يقين ولري چې په دې نړی کې زرګونه فرښتې ورسره دي چې د الله تعالی په غوره طريقه اطاعت کوي، نو هغه ته به آرامتيا ورسېږي.

۴ .د الله تعالی څخه د شکر او منني احساس، ځکه چې الله تعالی د انسانانو لپاره فرښتې د ساتنې او پالنې لپاره ګمارلي دي.

۵ .هغه به په دوامداره توګه د نړی پای ته رسيدو په اړه فکر کوي، ځکه چې د مرګ فرښتې په ياد لري چې يوه ورځ به د هغه روح قبض کړي، دا هغه هڅوي چې د خپل آخرت لپاره ايمان او نېک عملونه وکړي.

په آسماني کتابونو ايمان لرل:

الف– په کتابونو دايمان معنا:

-په کتابونو ايمان دا معنی لري چې انسان په پوره باور سره عقيده ولري چې الله تعالی د خپلو بندګانو د لارښوونې لپاره د پيغمبرانو له لارې کتابونه نازل کړي دي .دا کتابونه د الله تعالی کلام دی، او په هغو کې داسې خبرې شوي دي چې د هغه د شان او مقام سره مناسب دي .په دې کتابونو کې رڼا، حق او د خلکو لپاره د دنيا او آخرت لور ته هدايت شته.

ويل کيږي چې په اسماني کتابونو ايمان درې شيان رانغاړي:

۱ .په دې ايمان لرل چې يقيناً الله تعالی دغه کتابونه نازل کړي دي.

۲ .په هغو کتابونو ايمان لرل چې نومونه يې ياد شوي دي، لکه :قرأن کريم چې پر محمد ﷺ نازل شوی، تورات چې پر موسی عليه السلام نازل شوی، او انجيل چې پر عيسی عليه السلام نازل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ .په هغو رښتينو خبرونو ايمان لرل چې له دغو کتابونو څخه موږ ته رسېدلي دي، لکه هغه خبرونه چې قرأن کريم کريم بيان کړي دي.

-بايد وويل شي چې په اسماني کتابونو ايمان د ايمان له بنسټيزو ارکانو څخه يو دی .لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي :يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَى رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي أَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ .

ژباړه :ای مؤمنانو !په الله، د هغه په رسول، په هغه کتاب چې پر خپل رسول يې نازل کړی او په هغو کتابونو چې مخکې يې نازل کړي دي، ايمان راوړئ.

-نو الله تعالی امر کړی چې موږ د هغه پر رسول محمد ﷺ او پر هغه کتاب چې پر ده نازل شوی، يعني قرآن، ايمان راوړو .همدارنګه يې امر کړی چې پر مخکنيو نازل شويو کتابونو هم ايمان ولرو.

-رسول الله ﷺ د ايمان په تعريف کې وفرمايل:

»أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ. ) «

يعني :ايمان دا دی چې ته په الله، د هغه په فرښتو، د هغه په کتابونو، د هغه په پيغمبرانو، د قيامت په ورځ او په قضا او قدر. د هغه په خير او شر . ايمان ولرې «.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب -د قرأن کريم کريم ځانګړتياوې:

-قرأن کريم کريم د الله تعالی کلام دی چې زموږ پر پيغمبر محمد ﷺ نازل شوی دی .نو مؤمن انسان دې کتاب ته په ډېر درناوي او عظمت سره ګوري، هڅه کوي چې د هغه احکامو ته غاړه کېږدي، هغه تلاوت کړي او د هغه په آيتونو کې فکر او تدبر وکړي .همدا بس ده چې قرأن کريم زموږ لپاره په دنيا کې د هدايت لارښود او په آخرت کې د بريا سبب دی.

-قرأن کريم کريم داسې ډېرې ځانګړتياوې لري چې هغه يې پر پخوانيو اسماني کتابونو برتره کړی دی، له هغو څخه يې ځينې دا دي:

١ .قرأن کريم کريم د ټولو الهي احکامو لنډيز او مجموعه ده، او هغه څه هم تصديقوي چې په پخوانيو کتابونو کې د يو الله د عبادت په اړه راغلي دي .لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي- :وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ .

ژباړه :ای پيغمبره !موږ پر تا دا کتاب) قرآن (په حقه نازل کړ، چې د مخکنيو کتابونو تصديق کوونکی او پر هغو ساتونکی او ګواه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-یعنې قرأن کريم هغه صحیحه وحی تصدیقوي چې په پخوانيو کتابونو کې موجوده ده.

او« مهيمنًا عليه «معنا دا ده چې قرأن کريم د پخوانيو کتابونو امین، باوري او شاهد دی.

۲ .د قرأن کريم پيروي کول، پر هغه عمل کول او د هغه احکامو ته غاړه ایښودل پر ټولو خلکو واجب دي .خو پخواني کتابونه هر یو یوازې د ځانګړو قومونو لپاره وو .الله تعالی فرمايي:

وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقرأن کريم لِأُنذِرَكُمْ بِهِ وَمَن بَلَغَ ....

ژباړه :او دا قرأن کريم ماته وحی شوی دی، تر څو په دې سره تاسو او هر هغه چاته چې دا قرأن کريم ورسېږي، وويروم او خبر يې کړم.

۳ .الله تعالی پخپله د قرأن کريم د ساتنې ضمانت کړی دی، او هېڅوک به ونه شي کولای چې هغه بدل یا تحریف کړي .لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي :إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَ إِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ .

ژباړه :بېشکه موږ دا ذکر) قرآن (نازل کړی دی، او يقيناً موږ به يې ساتنه هم کوو.

## ج - د قرأن کريم کريم په وړاندې زموږ دنده:

-اوس چې موږ د قرأن کريم کريم د ځینو امتیازونو او ځانګړتیاوو سره آشنا شوو، نو زموږ دنده د قرأن کريم کريم په وړاندې څه ده؟

-په ځواب کې باید ووایو :موږ باید د قرأن کريم کريم سره مینه ولرو او هغه درووند او محترم وبولو، ځکه چې دا د الله عزوجل کلام دی او تر ټولو رښتيني او غوره وينا ده.

-همدارنګه د قرأن کريم کريم د آیتونو تلاوت کول، د هغه په سورتونو کې تدبر کول، او د هغه د نصیحتونو، خبرونو او کيسو په اړه فکر کول پر موږ واجب دي.

او همدارنګه د قرأن کريم کريم د احکامو پيروي کول هم پر موږ واجب ده .لکه څنګه چې له حضرت عائشې رضي الله عنها څخه د حضرت محمد  د اخلاقو په اړه پوښتنه وشوه، هغې په ځواب کې وويل:

»كانَ خُلُقُهُ القُرآنَ) «

يعني :د هغه اخلاق قرأن کريم وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني د قرأن كريم احكام او لارښوونې د رسول الله ﷺ په چلند او كردار كې په څرګنده بڼه ښكاره شوي وو، او هغه د قرأن كريم كريم بشپړه پيروي كړې وه.

له همدې امله پر موږ د رسول الله پيروي واجب ده، ځكه چې هغه زموږ لپاره تر ټولو غوره لارښود او نمونه ده .لكه څنګه چې الله تعالى فرمايي :لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا .

ژباړه :بېشكه د الله رسول ستاسو لپاره غوره بېلګه ده، د هغه چا لپاره چې په الله او د قيامت په ورځ اميد لري او الله ډېر يادوي.

## د – د پخوانيو اسماني كتابونو تحريف :

-الله تعالى په قرأن كريم كريم كې موږ ته خبر راكړى دى چې اهل كتاب) يهود او نصارا (خپل كتابونه تحريف كړي دي او له هغې بڼې څخه يې بدل كړي دي چې الله نازل كړي وو.

-يهوديانو تورات تحريف او بدل كړ او د هغه احكام يې لوبې او مسخرې ګرځولي دي .لكه څنګه چې الله تعالى فرمايي :مِنَ الَّذِينَ هَادُوا يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَوَاضِعِهِ .

ژباړه :په يهودو كې داسې كسان شته چې خبرې له خپلو ځايونو څخه بدلوي.

-نصاراؤو هم د انجيل احكام تحريف كړل .الله تعالى د هغوى په اړه هم فرمايي:

)وَإِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيقًا يَلْوُونَ أَلْسِنَتَهُم بِالْكِتَابِ لِتَحْسَبُوهُ مِنَ الْكِتَابِ وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتَابِ وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِندِ اللَّهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِندِ اللَّهِ وَيَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُونَ.

ژباړه :او په اهل كتابو كې داسې كسان هم شته چې د كتاب لوستلو پر مهال خپلې ژبې داسې تاووي چې تاسو ګمان وكړئ هغه څه چې دوى يې لولي د الله له كتاب څخه دي، حال دا چې له كتاب څخه نه دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی وايي چې دا د الله له لوري دي، خو له الله څخه نه دي .هغوی پر الله دروغ تړي، په داسې حال کې چې پوهېږي چې دروغ وايي.

-نو هغه تورات چې اوس موجود دی، هغه تورات نه دی چې پر موسی علیه السلام نازل شوی و .همدارنګه اوسنی انجیل هم هغه انجیل نه دی چې پر عیسی علیه السلام نازل شوی و.

-بلکې هغه تورات او انجیل چې اوس د اهل کتابو په لاس کې دي، په هغو کې فاسدې عقیدې، باطل خبرونه او دروغجنې کیسې شاملې دي .له همدې امله موږ هغه نه تصدیقوو، پرته له هغه څه څخه چې قرآن کریم کریم یا صحیحو سنتو یې تایید کړي وي.

## په پیغمبرانو ایمان راوړل :

### الف– دخلکو رسالت ته اړتیا ) : رسالت د انسانانو د لارښوونې وسیله ده : (

-رسالت د بندګانو لپاره یو ضروري امر دی، او د خلکو اړتیا رسالت ته د هرې بلې اړتیا څخه زیاته ده. ځکه رسالت د نړۍ روح او د ژوند رڼا ده .که په نړۍ کې روح، ژوند او رڼا نه وي، نو په هغې کې به کوم خیر او نېکمرغي پاتې شي؟

-تیاره نړۍ یوازې د رسالت د لمر په راختلو روښانه کېدای شي، او د دنیا او آخرت نېکمرغۍ ته د رسېدو او د ښه او بد د پېژندلو لپاره هېڅ بله لاره نشته مګر د رسالت له لارې.

لکه څنګه چې الله تعالی رسالت ته» روح «ویلی او فرمایلي یې دي :﴿وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِنْ أَمْرِنَا مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ وَلَٰكِنْ جَعَلْنَاهُ نُورًا نَهْدِي بِهِ مَن نَشَاءُ مِنْ عِبَادِنَا﴾ ژباړه :او همداسې مو د خپل امر له مخې تا ته یو روح) وحی (درولېږه .ته مخکې نه پوهېدې چې کتاب څه شی دی او ایمان څه ته وايي؛ خو موږ دا) قرآن (رڼا ګرځولې ده چې د خپلو بندګانو له ډلې هر چا ته چې وغواړو په وسیله یې لارښوونه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-په پیغمبرانو ایمان د ایمان له بنسټونو څخه یو بنسټ دی .لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي:

﴿آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ﴾
ژباړه :رسول) محمد (ﷺ پر هغه څه ایمان راوړی چې د خپل رب له لوري پرې نازل شوي دي، او مؤمنانو هم؛ هر یو پر الله، د هغه پر ملائکو، د هغه پر کتابونو او د هغه پر رسولانو ایمان راوړی دی.

-دا آیت څرګندوي چې پر ټولو پیغمبرانو ایمان لرل واجب دي، پرته له دې چې د هغوی تر منځ توپیر وشي. داسې نه لکه یهود او نصارا چې پر ځینو پیغمبرانو ایمان راوړي او پر ځینو نورو کفر کوي.

-لکه څنګه چې رسول الله ﷺ د ایمان په تعریف کې فرمایلي دي » :أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ «

ژباړه :ایمان دا دی چې ته پر الله، د هغه پر ملائکو، د هغه پر کتابونو، د هغه پر رسولانو، د قیامت پر ورځې، او پر تقدیر) چې خیر وي او که شر (ایمان ولرې.

-له بده مرغه هغه هیوادونه چې ځانونه پرمختللي بولي، له ډېرو کړاوونو، ستونزو او بدبختیو سره مخ دي، او د دې لامل دا دی چې هغوی د رسالت او اسماني لارښوونو څخه مخ اړولی دی.

## ب – پر پیغمبرانو د ایمان معنی :

-یعنې دا پوره او قطعي باور لرل چې الله تعالی د هر قوم لپاره د هغوی له خپل جنس څخه یو پیغمبر لېږلی دی، تر څو هغوی د یو واحد خدای عبادت ته راوبولي.

-او دا باور لرل چې ټول پیغمبران رښتیني وو او د الله تعالی له لوري تایید شوي دي؛ یعنې هغوی امانتدار، پرهېزګار، لارښوونکي او سمه لار موندونکي وو، او د الله ټول پیغامونه یې خلکو ته پرته له پټولو، کمولو او زیاتولو رسولې دي .لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي :﴿فَهَلْ عَلَى الرُّسُلِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ﴾

ژباړه :نو ایا د رسولانو پر غاړه له ښکاره پیغام رسولو پرته بله کومه دنده هم شته؟

-همدارنګه د دې خبرې تصدیق کول چې ټول انبیاء په څرګند حق باندې وو او د هغوی بلنه هم د توحید بلنه وه .لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي :﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه :او په يقين سره موږ په هر امت کې يو رسول راولېږه) له دې بلنې سره (چې د الله عبادت وکړئ او له طاغوت څخه ځان وساتئ.

-کېدای شي د انبياوو دينونه په ځينو فرعي مسئلو کې د حلال او حرام له پلوه له يو بل سره توپير ولري . لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي :﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾

ژباړه :موږ د هر يو لپاره له تاسو څخه يوه شريعت او يوه لاره ټاکلې ده.

بايد وويل شي چې پر پيغمبرانو ايمان په څلورو شيانو مشتمل دی:

١ . پر دې ايمان لرل چې د انبياوو رسالت د الله له لوري حق دی، او که څوک له هغوی څخه په يوه هم کافر شي، نو داسې دی لکه د ټولو رسالتونو څخه چې منکر شوی وي.

٢ . پر ټولو هغو پيغمبرانو ايمان لرل چې الله د هغوی نومونه ياد کړي دي، لکه :محمد، ابراهيم، موسی، عيسی او نوح عليهم السلام او نور ...همدارنګه پر هغو پيغمبرانو هم ايمان لرل چې موږ يې نومونه نه پوهېږو.

٣ . د هغو رښتينو خبرونو منل چې له پيغمبرانو څخه موږ ته رسېدلي دي.

۴ . د هغه پيغمبر د لارښوونو عملي کول چې موږ ته را استول شوی دی، او دا عقيده لرل چې هغه د ټولو پيغمبرانو سردار او وروستی پيغمبر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ج – د نبي او رسول تعريف

نبي د» نبأ «له کليمې څخه اخيستل شوی دی او معنی يې خبر ورکوونکی ده .نو نبي هغه څوک دی چې د الله له لوري خبر راوړي .يا دا چې له» نبوت «څخه اخيستل شوی چې معنی يې لوړه او جګه ځمکه ده؛ نو نبي تر ټولو ډېر شريف او د لوړ قدر او منزلت څښتن وي.

## د نبي اصطلاحي تعريف:

نبي هغه آزاد نارينه دی چې الله تعالی د خپلې وحی د تبليغ لپاره غوره کړی وي.

## رسول په لغت کې:

رسول هغه چاته ويل کېږي چې د چا له لوري د پيغام رسولو ماموريت ولري.

## د رسول اصطلاحي تعريف:

رسول هغه آزاد نارينه انسان دی چې الله تعالی هغه ته مستقل شريعت ورکړی وي او هغه يې مکلف کړی وي چې دا شريعت د مخالف قوم په منځ کې تبليغ کړي.

## د – د پيغمبرانو ځانګړتياوې او نښې :

-رسول تر نبي ډېر ځانګړی مقام لري .له همدې امله هر رسول نبي وي، خو هر نبي رسول نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نو رسول هغه څوک دی چې د الله د شريعت د تبليغ لپاره د داسې قوم په منځ کې مامور شوی وي چې د الله له دين سره مخالف وي او ترې ناخبره وي.

خو نبي خپلواک شريعت نه لري، بلکې د پخواني پيغمبر د شريعت د تبليغ لپاره لېږل کېږي.

## د پيغمبرانو صفات او د هغوی نښې :

-د پيغمبرانو عليهم السلام تر ټولو څرګند صفت دا دی چې هغوی بشر دي او د نورو انسانانو په څېر اوبو، خوړو او نورو اړتياوو ته ضرورت لري .لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي :﴿وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ إِلَّا رِجَالًا نُوحِي إِلَيْهِمْ﴾

ژباړه :او له تا څخه مخکې مو هم يوازې داسې سړي لېږلي دي چې هغوی ته مو وحی کوله.

-همدارنګه هغوی د نورو انسانانو په څېر له ستونزو، ناروغی او مرګ سره مخ کېږي.

او په هغوی کې د ربوبيت او الوهيت هېڅ ځانګړنه نشته .بلکې هغوی انسانان دي چې د پيدايښت او اخلاقو له پلوه د کمال درجې ته رسېدلي دي، او د نسب له اړخه د خلکو تر ټولو غوره وي .همدارنګه لوړ عقل او فصيحه ژبه لري چې د رسالت د رسولو او د ستونزو په مقابل کې په مقاومت کولو کې ورسره مرسته کوي.

-د بشر له ډول څخه د پيغمبر د لېږلو حکمت دا دی چې د خلکو لپاره بېلګه وي، ځکه هغه د دوی له خپل ډول څخه وي، نو طبعاً خلک کولای شي د هغه پيروي وکړي.

د پيغمبرانو بله ځانګړنه دا ده چې الله تعالی وحی يوازې هغوی ته ځانګړې کړې ده .لکه څنګه چې فرمايي : ﴿قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ﴾

ژباړه :ووايه :زه يوازې ستاسو په څېر يو بشر يم، خو ما ته وحی کېږي چې ستاسو معبود يوازې يو معبود دی.

نو الله تعالی هغوی د خلکو له منځه غوره کړي او ټاکلي دي .لکه څنګه چې فرمايي :﴿اللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره

ژباړه :الله ښه پوهېږي چې خپل رسالت چا ته وسپاري.

-د پيغمبرانو بله ځانګېرنه دا ده چې په هر هغه څه کې چې د الله له لوري يې خلکو ته رسوي، معصوم وي او د هغه په رسولو کې له خطا او تېروتنې څخه خوندي وي.

-د پيغمبرانو بله ځانګړنه رښتينولي ده؛ يعنې په خپلو خبرو او کړنو کې صادق وي .لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي :﴿هَذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمَنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُونَ﴾

ژباړه :دا هماغه څه دي چې الله وعده ورکړې وه او رسولانو رښتيا ويلي وو.

-د هغوی له نورو صفاتو څخه صبر او زغم هم دی .نو رسولان د زېري ورکوونکي او وېرې ورکوونکي وو او خلک يې د الله دين ته بلل.

-په همدې لاره کې هغوی له ډول ډول ځورونو، کړاوونو او سختيو سره مخ شوي دي، خو بيا هم د الله د کلمې د لوړولو په لاره کې يې دا ټول زغملي او صبر يې کړی دی .الله تعالی فرمايي :﴿فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ﴾

ژباړه :نو ته همداسې صبر وکړه لکه څنګه چې د کلک هوډ خاوندانو پيغمبرانو صبر کړی و.

خو د پيغمبرانو د نښو په اړه بايد ووېل شي چې :الله تعالی خپل رسولان په څرګندو معجزو او قوي دليلونو سره تاييد کړي دي چې د هغوی د رسالت پر رښتينولۍ دلالت کوي.

-نو الله تعالی د خپلو پيغمبرانو په وسيله داسې حيرانوونکي کارونه ترسره کوي چې د انسان له وسه پورته وي .دې ته معجزه ويل کېږي، او دا د هغوی د نبوت د رښتينولۍ څرګندونه او ثبوت دی.

### د بېلګې په توګه:

-حضرت عيسی عليه السلام خپل قوم ته خبر ورکاوه چې هغوی څه خوري او په خپلو کورونو کې څه شی زېرمه کوي؛ او د موسی عليه السلام امسا په مار بدلېده؛ او د محمد ﷺ د ګوتې په اشاره سره سپوږمۍ دوه ټوټې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ه. د پيغمبرانو د رالېږلو حکمت:

-الله تعالی پيغمبران رالېږلي دي تر څو د خلکو لپاره د حق معبود وپېژندل شي او هغوی د هغه يوازيني خدای لوري ته راوبولي چې هېڅ شريک نه لري.

-همدارنگه د دې لپاره چې دين ژوندی وساتي او له تفرقې او اختلاف څخه مخنيوی وکړي .لکه څنگه چې الله تعالی فرمايي :﴿شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ﴾

ژباړه :الله ستاسو لپاره هماغه دين ټاکلی دی چې نوح ته يې سپارښتنه کړې وه، او هغه څه چې موږ تا ته وحی کړي دي، او هغه څه چې موږ ابراهيم، موسی او عيسی ته سپارښتنه کړې وه :دا چې دين ټينگ وساتئ او پکې تفرقه او اختلاف مه پيدا کوئ.

-همدارنگه هغوی يې د دې لپاره رالېږلي دي چې خلکو ته زېری ورکړي او هغوی ووېروي .لکه څنگه چې الله تعالی فرمايي :﴿وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ﴾

ژباړه :او موږ پيغمبران نه لېږو مگر د زېري ورکوونکو او وېرې ورکوونکو په توگه.

بايد وويل شي چې د پيغمبرانو زېری ورکول او وېرول دواړه د دنيا او آخرت لپاره دي .هغوی پرهېزگارانو ته په دنيا کې د پاک او نېک ژوند زېری ورکړی دی .لکه څنگه چې الله تعالی فرمايي :﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً﴾

ژباړه :هر څوک چې نېک عمل وکړي، که نارينه وي يا ښځه، او مؤمن وي، نو موږ به هغه ته پاک او خوشاله ژوند ورکړو.

-همدارنگه خلک د دنيا له عذاب او تباهی څخه خبروي .لکه څنگه چې الله تعالی فرمايي:

﴿فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِّثْلَ صَاعِقَةِ عَادٍ وَثَمُودَ﴾

ژباړه :نو که هغوی مخ واړوي، وو ايه :ما تاسو د داسې تندر له عذابه وېرولي ياست لکه د عاد او ثمود د قوم تندر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## توحيد

## دماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره

-همدارنګه اطاعت کوونکو انسانانو ته د آخرت د جنت او نعمتونو زيرى ورکوي .لکه څنګه چې الله تعالى فرمايي :﴿وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾

ژباړه :هر څوک چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي، الله به هغه داسې جنتونو ته داخل کړي چې دلاندې به يې ويالې بهيږي او هغوى به پکې تلپاتې وي، او دا ستره بريا ده.

او ګناهکاران د آخرت له عذاب څخه وېروي .لکه څنګه چې الله تعالى فرمايي :﴿وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُّهِينٌ﴾

ژباړه :او هر څوک چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړي او د هغه له حدودو واوړي، الله به هغه اور )جهنم (ته داخل کړي چې هلته به تلپاتې وي او د سپکاوي عذاب به ولري.

-همدارنګه الله تعالى هغوى رالېږلي دي تر څو د خلکو لپاره په چلند، اخلاقو او عبادت کې تر ټولو غوره بېلګه وي .لکه څنګه چې فرمايي :﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾

ژباړه :بېشکه ستاسو لپاره د الله په رسول کې غوره بېلګه شته، د هغه چا لپاره چې د الله او د آخرت ورځې هيله لري او الله ډېر يادوي.

### پر محمدﷺ ، ايمان لرل :

-موږ ايمان لرو چې محمد ﷺ د الله بنده او رسول دى، د لومړيو او وروستيو خلکو سردار دى او د پيغمبرانو وروستى) خاتم الانبيا (دى، او له هغه وروسته به هېڅ پيغمبر رانشي.

هغه خپل رسالت تبليغ کړ، امانت يې ادا کړ، امت ته يې نصيحت وکړ او د الله په لاره کې يې په غوره ډول جهاد وکړ.

نو پر موږ واجب ده چې هغه څه چې موږ ته يې خبر راکړى دى، تصديق يې کړو؛ او په هغه څه کې چې امر يې کړى دى، اطاعت وکړو؛ او له هغه څه څخه چې منع يې کړې ده، ځان وساتو .او الله د هغه د طريقې مطابق عبادت کړو .لکه څنګه چې الله تعالى فرمايي :﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه :بېشکه ستاسو لپاره – د هغه چا لپاره چې د الله هيله لري او د قيامت ورځې ته سترګې په لار وي او الله ډېر يادوي – د الله رسول ﷺ غوره بېلګه ده.

-همدارنګه پر موږ واجب ده چې د هغه مينه د هر چا له مينې څخه مخکې کړو، که هغه پلار او مور وي، زوی وي او يا نور خلک .لکه څنګه چې هغه خپله فرمايلي دي » :لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ «

ژباړه :ستاسو له ډلې د هېچا ايمان نه بشپړ يږي تر څو چې زه ورته د هغه له پلار، زوی او ټولو خلکو څخه ډېر ګران نه شم.

-او د رسول الله ﷺ ښتينې مينه يوازې د هغه د سنتو په پيروي سره پوره کېږي .همدارنګه ښتينې نېکمرغي او بشپړ هدايت هم د هغه د لارښوونو په اطاعت پورې تړلې دی .لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿وَإِن تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ﴾

ژباړه :او که تاسو د هغه اطاعت وکړئ، نو هدايت به ومومئ، او د رسول دنده يوازې ښکاره پيغام رسول دي.

-همدارنګه پر موږ واجب دي چې هغه څه ومنو چې رسول الله ﷺ راوړي دي، د هغه پر سنتو عمل وکړو او د هغه لارښوونو ته درناوی او تعظيم وکړو .لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾

ژباړه :ستا په رب قسم !هغوی تر هغه پورې مؤمنان نه دي تر څو چې په خپلو شخړو کې تا قاضي ونه ګرځوي، بيا ستا د پرېکړې په اړه په خپلو زړونو کې هېڅ تنګوالی احساس نه کړي او په بشپړه توګه تسليم شي.

-او پر موږ دا هم لازمه ده چې د هغه له لارښوونو سره له مخالفت څخه ځان وساتو، ځکه د هغه مخالفت د فتنې، ګمراهۍ او دردناک عذاب لامل ګرځي .لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي :﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه :نو هغه کسان چې د هغه له امر سره مخالفت کوي باید وډار شي چې کومه فتنه به پرې راشي یا به دردناک عذاب پرې راکوز شي.

ز – د محمدي رسالت ځانګړنې :

١ – د محمد ﷺ رسالت د تېرو رسالتونو پای ته رسوونکی دی .لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي :﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ﴾

ژباړه :محمد ﷺ ستاسو له نارینه وو څخه د هېچا پلار نه دی، بلکې د الله رسول او د پیغمبرانو وروستی دی.

٢ – د محمد ﷺ رسالت د تېرو رسالتونو ناسخ دی.

-الله تعالی له هېچا څخه د محمد ﷺ له دین پرته بل دین نه قبلوي، او هېڅوک د جنت نعمت ته نه رسېږي مګر د محمد ﷺ له لارې .نو هغه تر ټولو ګران پیغمبر دی، امت یې تر ټولو غوره امت دی، او شریعت یې تر ټولو بشپړ شریعت دی.

لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي :﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾

ژباړه :او هر څوک چې له اسلام پرته بل دین وغواړي، هېڅکله به ترې ونه منل شي، او هغه به په آخرت کې له زیانکارانو څخه وي.

او همدارنګه رسول الله ﷺ فرمايلي دي » :وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَا يَسْمَعُ بِي أَحَدٌ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ يَهُودِيٌّ وَلَا نَصْرَانِيٌّ ثُمَّ يَمُوتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ إِلَّا كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ «

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه :په هغه ذات قسم چې د محمد ﷺ روح د هغه په لاس کې ده ! که د دې امت له خلکو څخه کوم یهودي یا عیسوي زما د بلنې خبر واوري او بیا مړ شي او په هغه څه ایمان رانه وړي چې زه پرې رالیږل شوی یم، نو هغه به د دوزخ له خلکو څخه وي.

-د محمد ﷺ رسالت عام دی او انسانان او پېریان دواړه پکې شامل دي .الله تعالی د جنیانو له یوې ډلې څخه په نقل کې فرمايي :﴿يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ﴾

ژباړه :اې زموږ قومه !د الله د بلونکي بلنه ومنئ.

او همدارنګه الله تعالی فرمايي :﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا﴾

ژباړه :او موږ ته نه يې رالیږلی مګر د ټولو خلکو لپاره د زېري ورکوونکي او وېرې ورکوونکي په توګه.

رسول الله ﷺ فرمايي:

-فُضِّلْتُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ بِسِتٍّ :أُعْطِيتُ جَوَامِعَ الْكَلِمِ، وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ، وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ، وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ طَهُورًا وَمَسْجِدًا، وَأُرْسِلْتُ إِلَى الْخَلْقِ كَافَّةً، وَخُتِمَ بِيَ النَّبِيُّونَ) «

-ژباړه :ماته په شپږو شیانو کې پر نورو پیغمبرانو برتري راکړل شوی ده: ماته جامع او لنډې خو د ډېرو معناوو لرونکې خبرې راکړل شوې دي، د دښمنانو په زړونو کې د وېرې اچولو سره زما مرسته شوې ده،د جګړې غنیمتونه راته حلال کړل شوي دي،ځمکه راته پاکه او د لمانځه ځای ګرځول شوې ده،زه ټولو خلکو ته رالیږل شوی یم،او د پیغمبرانو لړۍ زما په وسیله پای ته رسېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج – پر پیغمبرانو د ایمان اغېزې :

۱ – د الله تعالی د رحمت او د هغه د مهربانۍ پېژندل پر خپلو بندګانو، ځکه چې هغه پیغمبران هغوی ته رالېږلي دي تر څو هغوی سمې لارې ته هدایت کړي او د الله د عبادت طریقه ور وښیې .ځکه دا کار د انسان د عقل له وسه پورته دی .الله تعالی د محمد ﷺ په اړه فرمایي:

﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ﴾

ژباړه :او موږ ته نه یې رالېږلی مګر د ټولو نړیوالو لپاره د رحمت په توګه.

۲ – د دې ستر نعمت په بدل کې د الله تعالی شکر او مننه کول.

۳ – د ټولو پیغمبرانو سره مینه کول او هغوی ته درناوی او تعظیم کول، هغه ډول چې د هغوی د مقام سره مناسب وي؛ ځکه هغوی د الله د عبادت، د رسالت د تبلیغ او د بندګانو د نصیحت لپاره رالېږل شوي وو.

۴ – د هغو لارښوونو منل چې پیغمبرانو د الله له لوري راوړې دي او پر هغو عمل کول، تر څو د دنیا او آخرت خیر، هدایت او نېکمرغي مسلمانانو ته په برخه شي.

